# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۲٦) ګڼه / پنجشنبه ۱۸ رجب المرجب ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۲۰ دلو ۱٤۰۱ هـ.ش / ۰۹ فبروري ۲۰۲۳ میلادي


## افغانۍ د نړۍ په ۹ بهترینو اسعارو کې راغلې

افغانۍ کرنسۍ د نړۍ په ۹ بهترینو کرنسیو کې راغلې ده.

افغانۍ کرنسۍ د نړۍ په هغو ۹ بهترینو کرنسیو کې مقام خپل کړی چې په تېرو ۱۲ میاشتو کې یې د ډالر په وړاندې شاوخوا



۵.٦ سلنه ارزښت پیدا کړی دی.

د یادولو ده چې دا په داسې حال کې ده چې پاکستانۍ روپۍ د نړۍ د ۹ کرنسیو څخه شاوخوا ۳۷ سلنه ارزښت بایللی دی.

### سرپرست وزارت صحت عامه

## با عملی شدن طرح جدید شفاخانه‌ها بهبود خواهند یافت



شریعت: طرح اصلاحات در شفاخانه‌ی جمهوریت، در نشستی که به ریاست مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا تدویر یافته بود، بررسی شد.

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزرا روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: که طرح اصلاحات شفاخانه‌ی جمهوریت' بخشی از طرح وزارت صحت عامه برای آوردن اصلاحات در شفاخانه‌های رسمی است.

این نشست به ریاست مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا و با اشتراک داکتر قلندر عباد سرپرست وزارت صحت عامه، مسوولان و متخصصین آن وزارت دایر گردید.

در این طرح اصلاحات برای شفاخانهٔ جمهوریت که از سوی متخصصین آن اداره ارائه گردید، افزایش بستر، کارمندان اداری و مسلکی، ایجاد مراکز تربیوی متخصصین با ظرفیت تربیهٔ داکتر متخصص در هر دوره، افزایش بخش‌های مختلف، ایجاد ساختار مطابق معیارهای بین المللی و مصؤونیت وظیفوی برای متخصصین در این شفاخانه در نظر گرفته شده است.

به گفتهٔ سرپرست وزارت صحت عامه در حال حاضر هزاران نفر برای معالجه به خارج از کشور سفر می‌کنند، در صورت عملی شدن طرح یاد شده بخش قابل توجهی از امراض در داخل کشور معالجه می‌شوند و از خارج شدن اسعار به خارج کشور جلوگیری می شود... ص۷

## د بلخ په شورتېپې ولسوالۍ کې د آمو سیند د څنډو د پیاوړتیا چارې پیل شوې

د بلخ په شورتېپې ولسوالۍ کې د آمو سیند د څنډو د تخریب د مخنیوي او پیاوړتیا چارې د اوبو او انرژۍ وزارت د مرستیال مولوي مجیب الرحمن حقمل له لوري د پټۍ په پرېکولو سره پیل شوې.

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د اوبو او انرژۍ وزارت مرستیال مولوي مجیب الرحمن حقمل وویل، چې په تېرو څلورو لسیزو کې د افغانستان خلک په بېلابېلو قومونو وېشل شوي وو، خو الحمدالله نن ورځ افغانستان له هر ډول قومي او ژبني تفرقې پرته په ټول هېواد کې بنسټیز کارونه پیل کړي، چې د آمو سیند د تخریب د مخنیوي په موخه یې درغنیزو پروژو پیل یې ښکاره بېلګه ده.

حقمل زیاته کړه، چې د هېواد په څلورو ولایتونو کې د آمو سیند څنډو د مخنیوي... ۷مخ

### د بهرنیو چارو وزیر او د جاپان سفیر ترمنځ په لیدنه کې

## ټینګار وشو چې له نړۍ سره د تعامل لپاره باید مثبت ګامونه واخیستل شي

شریعت: د هېواد د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیرخان متقي د افغانستان لپاره د جاپان هېواد له سفیر تاکاشي اوکادا سره وکتل. د باختر آژانس د خبر له مخې؛ په دغه کتنه کې په یو شمېر مهمو سیاسي مسایلو سربېره پر بشري همکاریو او د سیمې او نړۍ په اوسنیو حالاتو خبرې اترې وشوې.

په یاده کتنه کې ټینګار وشو، چې د افغانستان او نړۍ تر منځ د مثبتو ګامونو په اخیستلو سره بهتره تعامل رامنځته شي.



## اشتراک سفیر افغانستان در کنفرانس بین‌المللی مسلکی سازی ادارات و پالیسی عامه در دوحه

کنفرانس بین المللی مسلکی سازی ادارات و پالیسی عامه، در کشورهای رو به انکشاف در دوحه برگزار گردید.

داکتر محمد نعیم وردک سرپرست سفارت افغانستان در دوحه، در این نشست، شرکت داشت.

این کنفرانس... ص۷

## سفر هیئت بلندرتبهٔ ادارهٔ خط آهن به ازبکستان

شریعت: هیئت بلندرتبهٔ به رهبری ملا بخت الرحمن شرافت سرپرست اداره خط آهن روز گذشته عازم ازبکستان گردید.

هدف این سفر' نهایی سازی روند انتقال مسؤولیت‌های راه آهن حیرتان – مزارشریف به جانب افغانی گفته شده است.

دفتر مطبوعاتی اداره خط آهن با نشر خبرنامه‌یی گفته است؛ که در ترکیب این هیئت نمایندگان معاونیت اقتصادی ریاست الوزرا، ریاست تدارکات ملی و وزارت مالیه، نیز شامل اند.

خبرنامه می‌افزاید: قرار است، در جریان این سفر، در مورد انتقال مسؤولیت‌های خط آهن حیرتان – مزارشریف به ادارهٔ خط آهن افغانستان و نهایی شدن توافق نامه انتقالات با آن کشور، گفتگوهای مفصلی صورت گیرد...ص۷

## لغمان: نږدې ٦۰ جریبه دولتي ځمکه له غصب څخه خلاصه شوه

د لغمان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسوولین وایي چې د دغه ولایت په الینګار ولسوالۍ کې یې ۵۷.۴ جریبه ځمکه له غصب څخه خلاصه کړې ده.

د یاد ولایت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رئیس مولوي محمد ولي محسن باختر آژانس سیمه ییز... ۷مخ

### سرمقاله

## افغان ولس له خپلو ترکي او شامي ورونو سره ژوره غمرازي لري!

د رارسېدلو خبرونو له مخې تېره ورځ په ترکیه او سوریه کې د منځ ته راغلي زلزلې په نتیجه کې د انساني تلفاتو شمېر زرګونو ته رسېدلی او هره شېبه په یادو ارقامو کې څه ناڅه زیاتوالي اعلانیږي. دا چې انساني توکم په تولیزه توګه اصلاً یوه کورنۍ ده، همدا وجه ده چې د نړۍ په هره برخه کې بشریت ته رسېدلي زیانونه همېشه ډېر نور هم اغېزمن کوي او همدا راز له سوکالۍ سره یې ډېر نور هم سوکاله وي. البته کله چې د ځینو وګړو ترمنځ یو څه نور مشترکات هم وي نو یاد اغېز لاپسې زیاتیږي. بناء پردې مورږ هم د اسلامي نړۍ له ګردو مسلمانو ملتونو سره د خپلو دیني معتقداتو، کلتوري نږدیوالي او سیمه ایزو اړیکو له کبله نسبت له نورو ملتونو زیاتې او ژورې اړیکې لرو. او همدا وجه ده چې اوس ټول افغان ولس د ترکي او شامي زلزله ځپلو مسلمانو ورونو په غم ویرجن او مصیبت ځپلو سره خپله ژوره خواخوږي څرګندوي. په دې لړ کې د افغانستان اسلامي امارت هم له یادو جهتونو سره د پوره غمرازۍ او خپل توان سره سم د مالي مرستو اعلان کړی او مصیبت ځپلو ته یې د ډاډ ګېرنه ورکړې ده. دا په داسې حال کې چې افغانان له څه باندې څلورو لسیزو راهیسې نه یوازې د نړۍ د دواړو ختیځو او لویدیځو نظامي اتحادونو له خورا وحشي یرغلونو سره مخ او په مقاومت او جګړه کې انتهایي زیات وځپل شول او مادي وسایل او شتمنۍ یې په صفر ودرېدلې، بلکې پرله پسې ډول همدغسې اسماني افات هم ورته راپېښ شول. د مثال په ډول تېر کال په ژمي کې زلزلې، تېراوړي کې سیلابونو او تردې مخکې وچکالیو د افغانانو ژوند ژواک د بې وزلۍ وروستۍ کچې ته ورساو. مطلب دا چې اوس مهال افغان ملت په سخته بې وسۍ او تنګلاسۍ کې راګیردی او همدا لامل دی چې خپلو مسلمانو ورونو سره د خیر په چارو کې پوره ونډه نه شي اخیستلی. کنه حقیقت خو دادی چې افغانانو د خپل دین او مذهب هغه سپارښتنې ډېرې په کلکه منلې چې ټول مسلمانان سره ورونه او د هغه چا ایمان بشپړنه دی چې د نورو مسلمانانو له حاله بې پروا او ښه – بده یې ورته مهمه نه وي. که څه هم مسلمانان عموماً د همداسې خواخوږۍ احساس لري او که پرحکومتونو حساب ونه کړو نو د ولسونو تر منځ لا هم د ټینګو اړیکو او اسلامي اخوت ارمانونه او تلوسې ژوندۍ او څپانده دي. خو له بده مرغه دا د حکومتونو او سیاسي واکمنو کړیو ګناه ده چې ایکي یو مسلمان امت یې په شپېتو برخو وېشلی، برمته کړی او له نورو مسلمانانو سره د دوستۍ او ورور ګلوۍ پرځای دښمنۍ ته هڅولی دی. اوس دا حقیقت له هیچاپټ نه دی چې په اسلامي نړۍ کې موجوده بدمرغي، انحطاط، ذلت او خورا ناوړه حالت د هغو حاکمانو د عمل نتیجه ده چې شپه ورځ د مسلمانانو د سرسخته دښمنانو فرمایشاتو ته سلامي ولاړ او تل د هغوی پلانونه تطبیقوي. تردې چې زیاترو خویې د خپلو ګردو شتمنیو او خزانو چابیانې هم هماغو کینه کښو دښمنانو ته سپارلې... ۷مخ

## علاقمندی ترکمنستان برای خریداری بیشتر سنگ مرمر از افغانستان



شریعت: ترکمنستان خواهان خریداری و واردات بیشتر سنگ مرمر ولایت هرات گردیده است.

شیخ نور احمد اسلام جار والی هرات در نشستی که با سر قنسل ترکمنستان در شهر هرات داشت، به تشریح ظرفیت‌های اقتصادی و صنعتی این ولایت پرداخت... ص۷

## طرح تأمین آب آشامیدنی شهر کابل در جلسه‌یی مورد بحث قرار گرفت

شریعت: وزارت انرژی و آب، جلسه‌یی را به منظور تأمین آب آشامیدنی شهر کابل برگزار نمود.

این وزارت روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: که جلسهٔ مذکور تحت ریاست ملاعبداللطیف منصور سرپرست وزارت انرژی... ص۷

## د فرهنګي مبارزینو د پام وړ!

۳ مخ

### د شریعت ځانګړې راپور

## تر دې مهاله د تیرې اداري ۴۸۰ چارواکي او ګڼ شمېر علمي کدرونه هیواد ته راستانه شوي

۲ مخ

## د شعبان او رمضان په میاشتو کې د قرآن کریم د ترجمو او تفسیر د دورو په هکله اطلاعیه

د افغانستان اسلامي امارت د ارشاد، حج او اوقافو وزارت په پام کې لري چې د تیر کال په څېر د روان ۱۴۴۴ هـ ق کال د شعبان المعظم او رمضان المبارک په میاشتو کې د هېواد په نظامي مراکزو او دغه راز په ملي راډیو تلویزیون کې په پښتو او دري ژبو د قرآن کریم د ترجمو او تفسیر دورې ترسره کړي.

ددغو چارو د سرته رسولو لپاره د افغانستان اسلامي امارت د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د سرپرست شیخ الحدیث دکتور مولوی نورمحمد ثاقب په مشرۍ د وزارت د رهبرۍ په کچه یوه کمیټه له تیرو څو اونیو راهیسې په مرکز او ولایاتو کې د هیواد له شیوخو او جیدو علماء کرامو سره په اړیکو او د ترجمو د ځایونو په تنظیم بوخت دي او له پرلپسې مجلسونو او مشورو وروسته پریکړې وشوې چې د مرکز کابل په ګډون به د ټول هېواد په دوه سوه او دوه (۲۰۲) نظامي ځایونو کې او دغه راز په ژوندۍ بڼه په ملي راډیو تلویزیون کې د قرآن کریم د ترجمې او تفسیر دورې ترسره کیږي.

او د قرآن کریم د ترجمې او تفسیر دورې به د شعبان المعظم له لومړۍ نیټې (چهارشنبې ورځې) څخه پیل او د رمضان المبارک میاشتې تر (۲۵) نیټې به دوام کوي.

ان شاءالله تعالی

## د زابل مستوفیت ٦۱ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي

د زابل د مستوفیت مسوولین وایي، چې د دغه ولایت مستوفیت د روان کال له پیله تراوسه ٦۱ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي دي.

د دغه ولایت مستوفي مولوي نورالحسن محسن د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د مالیې وزارت له لوري د ورکړل شوي هدف څخه یې شاوخوا ۱۲ سلنه زیات عواید راټول کړي، چې ټول ٦۱ میلیونه افغانۍ کېږي.

نوموړي همدارنګه وویل، چې د ۱۴۰۱ مالي کال... ۷مخ

## ننګرهار کې سلګونه روږدي کسان د درملنې په موخه راټول شول

شریعت: د جلال آباد ښار له بېلابېلو سیمو څخه ۲۰۰ تنه په نشه یي توکو روږدي کسان، د ننګرهار د عامې روغتیا ریاست او د امنیې قومندانۍ د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې مدیریت په همکارۍ راټول او د درملنې په موخه د ننګرهار معتادینو ۱۷۰ بستریز روغتون ته ولېږدول شول.

د ننګرهار د عامې روغتیا ریاست مسوولین وایي، چې یاد کسان به په نوموړي روغتون کې د ۴۰ ورځنۍ درملنې او مشورې وروسته خپلو کورنیو ته وسپارل شي او تر یوه کاله به د یاد روغتون... ۷مخ

## یو شمېر لوړ پوړو چارواکو د غزني له تاریخي آبدو لیدنه وکړه

د ریاست الوزرا د فتر رئیس ډاکټر ملا عبدالواسع آخندزاده، د عدلیې وزارت مسلکي معین مولوي عبدالکریم او د علوم‌واکاډمې د تفسیر او احادیثو رئیس مولوي عرفان الله عرفان غزني ته د سفر پر مهال د دغه ولایت... ۷مخ

## فراه کې د څاړې په نوم سلګونه روزل شوي مرغان طبیعت ته آزاد شول



په فراه کې د قطر هېواد د الغرافه خیریه بنسټ له کمپ څخه تر ۳۰۰ زیات څاړې (هباري) مرغان له یو کال روزنې وروسته د نسل د تکثیر لپاره په ازاده هوا کې پرېښودل شول.

دغه مرغان د چاپېریال ساتنې ملي اداري... ۷مخ

# صدر اسلام او د بریالۍ حکومتولۍ راز!

ابوالیاس جهادوال/ لومړۍ برخه

کله چې د اسلام ستر پیغمبر د الله ﷻ په حکم له مکې معظمې څخه مدینې منورې ته هجرت وکړ، نو ورسره‌سم د اسلامي حکومت بنسټ هم کېښودل شو. هغه مهال شرایط داسې وو چې باید لومړی د مدینې منورې چارو سمون ته پام واړول شي نو په همدې موخه پیغمبر ﷺ د «منشور مدینه» په نوم یوه داسې کړنلاره تصویب کړه چې پر بنسټ یې د دغه ښار ټولې ټولنیزې، سیاسي او امنیتي چارې سمبالیدې. د اسلام ستر پیغمبر د همدغه منشور پر بنسټ خپل سیاسي ـــ ډیپلوماټیک فعالیتونه هم پیل کړل چې په پایله کې یې ډېر قبائل د اسلام پر دین مشرف شول او ځینو یې هم بې پرې سیاست غوره کړ. دغې چارې له یوې خوا د اسلامي نظام حاکمیت پراختیا ته لاره هواره کړه او له بل لوري یې د قریشو پر حاکمیت چې هغه مهال یې پر نورو عربي قبایلو هم پراخ نفوذ درلود، منفي اغېز وکړ.

له هغه وروسته پیغمبر ﷺ خپل پام د مکې قریشو ته واړاوو، که څه هم دغه مشرکین هغه مهال د اسلامي نظام پر وړاندې تر ټولو ستر خنډ ګڼل کیدل او څو ځلې یې په مدینه منوره بریدونه کړي وو چې وروستی هغه یې هم د خندق جګړه وه، خو وروستیو پرمختیاوو یې د حاکمیت ستنې کمزورې کړې وې چې بالاخره یې د حدیبیې سولې ته غاړه کېښوده او په یو ډول سره یې اسلامي نظام په رسمیت وپېژانده چې دغه تړون وروسته د هجرت په اتم کال د مکې عظیمې فتحې ته زمینه برابره کړه. په دې توګه هغه ستر خطر له منځه لاړ چې د اسلامي نظام پراختیا او پرمختیا پر وړاندې خنډ بلل کیده.

د مکې معظمې له سترې فتحې وروسته بېلابېلو قبایلو د استازیو په استولو سره د اسلام دین منلو پیامونه وړاندې کړل چې په دې سره اسلام د جزیرة العرب په ټوله ځمکه خپور شو. نبي کریم ﷺ نویو مفتوحه سیمو له‌پاره عیني شرایطو ته په کتو سره بېلابېل شرایط وټاکل، چې ځینې هغه یې په لاندې ډول دي:

۱. د خیبر، فدک او تیما یهود میشتي سیمې چې د تورې په زور فتحه شوې وې، مکلف شول چې د خپلو کرنیزو محصولاتو نیمایي برخه اسلامي نظام ته ورکړي؛

۲. د نجران سیمې خلکو سره چې مسیحیان وو او خپل ځانګړی اداري سیستم او خپلواکي یې درلوده، داسې تړون لاسلیک شو چې د خپلو محصولاتو او عوایدو یوه برخه اسلامي نظام ته ورکړي خو په حکومتي سیستم کې یې کوم ځانګړی بدلون رانه وستل شو؛

۳. طائف د اداري مرکز په توګه وټاکل شوه او عثمان بن ابي العاص یې والي وټاکل شو؛

٤. یمن په درېیو ایالتونو (صنعاء، الجند او حضرموت) باندې وویشل شو؛ او

٥. جیفر او عباد آل الجلندي د عمان په حاکمیت کې ابقاء شول.

همدارنګه د اسلام ستر پیغمبر ﷺ له رحلت وروسته چې کله حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د مسلمانانو د خلیفه په توګه وټاکل شو، نو لومړی یې د رومیانو مقابلې ته ورودانګل او تر شدیدې جګړې وروسته یې دغه امپراتورۍ ماته کړه. ورپسې یې په جزیرة العرب کې د ځینو مرتدینو او مخالفانو پر ضد اقدامات وکړل او هغوی یې بېرته د اسلامي نظام تابع وګرځول.

د اسلام لومړي خلیفه په زمانه کې رومي او ایراني امپراتورۍ هم وځپل شوې او په عملي توګه له عرب جزیرې بهر د فتوحاتو لړۍ پیل شوه.

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه له وفات وروسته چې کله حضرت عمر فاروق د مسلمانانو خلیفه وټاکل شو، د فتوحاتو لړۍ دوام وموند، فارس (اوسنی ایران، عراق، افغانستان او بلوچستان) په بشپړ ډول د اسلام تر حاکمیت لاندې راغی او شام، فلسطین او مصر هېوادونه هم فتحه شول.

له هغه وروسته د حضرت عثمان رضي الله عنه خلافت په وروستیو کې د مسلمانانو ترمنځ د ځینو اختلافونو له امله په فتوحاتو کې څه خنډ راغی خو د اموي خلافت په واکمنیدو سره دغه لړۍ بېرته پیل او لا ګړندۍ شوه.

دغه مهال چې حضرت معاویه رضي الله عنه د مسلمانانو خلیفه وو، د شمالي افریقا په فتحې سره روم په افریقا کې خپل حاکمیت له لاسه ورکړ.

ورپسې د عبدالملک بن مروان او ولید بن عبدالملک واکمنۍ پر مهال هم د فتوحاتو دغې لړۍ دوام وموند، روم خپل تر واک لاندې سیمې یو په بل پسې له لاسه ورکړې او اسلامي پوځونه د دغې امپراتورۍ پلازمینې قسطنطنیې ته نږدې شول.

په اوومه عیسوي پیړۍ کې د ولید بن عبدالملک د خلافت پر مهال اسلامي لښکرې د طارق بن زیاد پر مشرۍ پر اسپانیې (اندلس) برید وکړ چې خلک یې د واکمنو له ظلم څخه سخت تنګ شوي وو او د مراکش شمالي ساحل د سبته سیمې د والي «یولیان» په مرسته یې دغه هېواد فتح کړ.

اسلامي لښکرو له دې سربېره د اروپا د فتحې له‌پاره هم متې راونغاړلې او د فرانسې څو سرحدي ښارونه یې فتح کړل. دغه مهال د اسلام سپیڅلی دین په اروپا کې په چټکۍ سره د خپریدو په حال کې وو او یو زیات شمېر اروپایي ځوانانو له اسلام سره د لیوالتیا له امله د عربي ژبې زده‌کړې ته مخه کړه چې دې وضعیت مسیحي مذهبي رهبران اندېښمن کړل. په کمو امکاناتو د مسلمانانو دغه بې‌ساري پرمختګ چې په پایله کې یې اسلامي نظام د نړۍ پر ډېره برخه حاکمیت درلود، بېلابېل لاملونه درلودل چې ځینو هغو ته یې لنډه کتنه کوو:

۱) د شریعت انفاذ:

په صدر اسلام کې د اسلامي نظام د بریا تر ټولو ستر راز پر ځمکه د الهي قانون حاکمیت وو ځکه چې په اسلام کې تکویني او تشریعي حاکمیت د الله تعالی حق ګڼل شوی چې د خپل خلیفه پر مټ یې پر ځمکه نافذوي، څرنګه چې قرآن کریم فرمایي: ژباړه: (ته ووایه: ای الله!د بادشاهۍ مالکه! ته بادشاهي ورکوې هغه چا ته چې وغواړې او بادشاهي بېرته اخلې له هغه چا نه چې وغواړې، چا ته چې وغواړې عزت ورکوې او چا ته چې وغواړې ذلت ورکوې، هم ستا په لاس کې خیر دی، بېشکه ته په هر شي باندې ښه قادر یې)(آل عمران سورة، ۲۶ آیت)

له همدې امله وه چې د اسلام ستر پیغمبر ﷺ څخه نیولې تر خلفاوو راشیدو او نورو اسلامي امیرانو د واکمنۍ هدف یوازې او یوازې پر ځمکه د الهي قانون حاکمیت وو چې دا نه یوازې د اخروي بریا لامل کېږي، بلکې په دارالفناء کې هم د انسانانو کامیابي او خوشبختي تضمینوي او دغه حاکمیت امتیاز نه بلکې یو ستر مسوولیت دی چې باید اهل ته یې وسپارل شي. څرنګه چې حضرت علی رضی الله تعالی عنه فرمایي: حق علی الامام ان یحکم بما انزل الله وان یودی الامانة فاذا فعل ذالک فحق علی الناس ان یسمعوا له وان یطیعوا وان یجیبوا اذا دعوا. [کنز]

ژباړه: د امام (حاکم) دنده دا ده چې د الله له نازل شوي قانون سره سم قضاوت وکړي او امانت اداء کړي، نو کله چې هغه دا ډول عمل کوي، نو د خلکو دنده ده چې د هغه خبرې واوري، اطاعت یې وکړي، او کله چې هغوی را بولي باید مثبت جواب ورکړي.

# فصل سرما و خطرات ناشی از زغال گرفتگی

اسفندیار

همه ساله هم زمان با فرا رسیدن زمستان در افغانستان میزان مرگ و میر ناشی از زغال گرفتگی و گاز گرفتگی در میان شهروندان افزایش می‌یابد و این مرگ خاموش تعداد زیادی را به کام مرگ می‌کشاند. معمولا در افغانستان مردم برای گرم ساختن خانه‌های شان در فصل سرما از بخاری‌های گازی و زغال‌سنگ سوز استفاده می‌کنند که این امر سبب می‌شود تا آمار مسمومیت ناشی از زغال گرفتگی و گاز گرفتگی بالارود. در همین یکی دو ماه گذشته خبرهای زیادی مبنی بر از بین رفتن خانواده‌ها درنتیجه زغال گرفتگی و یا گاز گرفتگی در رسانه‌ها و شبکه های اجتماعی دست به دست می گردید.
بی احتیاطی، نا آشنایی مردم در قسمت چگونگی استفاده از سوخت زغال‌سنگ و استفاده از بخاری های گازی، از عوامل و دلایل اصلی زغال گرفتگی و گاز گرفتگی به شمار می‌رود.
با توجه به افزایش آمار قربانیان گاز گرفتگی، زغال گرفتگی و حادثات مسمومیت، آسیب‌شناسی و ارائه معلومات در این زمینه برای خانواده‌ها بسیار مهم و ضروری است. از آنجایی که زغال گرفتگی و گاز گرفتگی هردو عوامل و پیامد مشابه دارند به گونه موردی به زغال گرفتگی می‌پردازیم.

گاز گرفتگی یا زغال گرفتگی در اثر آزاد شدن ترکیبات خاص کاربن مونواکسایدو یک گاز بی ذائقه و بی‌بو است که وارد سیستم تنفسی شده و با خون انسان مخلوط و از آن طریق وارد سیستم حیاتی بدن مانند دماغ می‌شود که حتی شخص را به‌راحتی در حالت بیداری نیز مسموم می‌کند. داکتران گویند، زمانی که آکسیجن کافی از طریق دودکش یا منافذ دیگر به مواد سوختی زغال‌سنگ نمی‌رسد، گاز بی‌رنگ و بی‌بو خارج‌شده و به محیط پخش می‌شود و بدون آنکه اعضای خانواده متوجه آن شوند، مسموم می‌شوند. به گفته آگاهان گاز زغال‌سنگ باعث نرسیدن آکسیجن به مغز می‌شود که اگر فوراً تداوی نشود، به زودترین زمان مریض را از بین می‌برد. تولید این گاز بی‌بو و بی ذائقه توسط چری ها و بخاری‌های کهنه و فرسوده، نادرست بودن لوله‌های بخاری، سوختن ناقص بخاری و زغال‌سنگ و باز بدون مسیر دود به‌طرف خانه، صورت می گیرد.

واضیح ترین نشانه‌های مسمومیت ناشی از زغال‌سنگ، تاریکی و خیرگی دید، نفس تنگی، تهوع و استفراغ، هذیان‌گویی، سرگیجه، سردردی، دل بدی، سستی و ضعف است. مسمومیت باحالت خواب‌رفتگی و سستی بدن شخص شروع می‌شود. بعدازآن آهسته‌آهسته فکر و هوش انسان کاهش میابد، تپش های قلب شروع می‌شود و شخص به هذیان‌گویی شروع می کند.

مختار باشنده کابل می‌گوید، خراب بودن بخاری، خراب بودن نل ویا پر شدن نل ها یا مسیر دود در بین دیوار، سبب زغال گرفتگی می‌شود. وی افزود، «یک‌شب نل های بخاری خانه ما پرشده بود، اما ما بخاری را روشن کردیم، شب حادثه زغال گرفتگی به وجود آمد و من بیشتر از دیگران متوجه شدم فوراً اعضای فامیل را به مکان دیگر منتقل کردیم و با راه های وقایوی، آنها را نجات دادیم». او می‌گوید که ماه گذشته چند تن از اعضای یک خانواده در همسایگی آنها، به اثر زغال گرفتگی از بین رفتند.

فدا محمد یکی دیگر از باشنده گان کابل گفت: نظر به معلومات و گزارش‌ها، بسیاری از حادثه‌های زغال گرفتگی که منجر به مرگ افراد شده، در مکان‌های بدون تهویه مانند حمام‌ها و خانه‌های کوچک و مرتوب رخ داده است. وی می‌گوید از طرف دیگر زغال‌سنگ‌ها معمولاً برای گرم ساختن کوره‌ها، کارخانه‌ها و خطوط آهن است؛ نه برای گرم ساختن منازل حمام و خانه‌ها. اما در کابل مردم از روی ناگزیری از آن استفاده می‌کنند، بیشتر این زغال‌ها بی‌کیفیت است که سبب تولید دود می‌شوند. این زغال‌سنگ‌ها به شکل کامل نسوخته و قسمت باقی‌مانده آن به‌شدت خطر زغال گرفتگی را بین اعضای خانواده بیشتر می کند.

همین‌گونه نا آشنایی بعضی خانواده‌ها نسبت به چگونگی استفاده از بخاری‌های ترکی و زغال‌سنگ، باعث می‌شود که زغال گرفتگی به وجود بیاید.

در کنار این موارد گفته می‌شود که هرگاه در قسمت تکاندن دود نل های بخاری یا ترمیم آن، بی‌توجهی صورت گیرد، خطر زغال گرفتگی بیشتر می‌شود. خانواده‌های که در تکاندن و پاک کردن نل های بخاری، ترمیم عوارض بخاری و نل‌های آن و همچنین دقت در کیفیت، روشن گذاشتن بخاری در هنگام خواب، تنبلی و بی‌احتیاطی می‌کنند، به‌شدت در معرض خطر زغال گرفتگی قرار دارند.

با این حال داکتران توصیه می‌کنند که برای جلوگیری از زغال گرفتگی، شهروندان باید در قسمت تبدیل هوای خانه، ترمیم نل های بخاری، تکاندن دودها در داخل نل ها و بین دیوارها، توجه بیشتر کنند. به‌محض احساس سرگیجه یا تهوع، فوراً دروازه‌ها و پنجره‌ها را باز بگذارند. خانواده‌ها باید از قرار دادن زغال‌های نیم‌سوخته و سیاه در صندلی‌ها و داخل بخاری‌ها خودداری کنند. نل های بخاری باید کوتاه و مستقیم به‌طرف بیرون تنظیم شود تا دود و بخار خارج گردد. در بالای بام نیز بالای نل‌های بخاری کلاهک مخصوص نصب شود.

هرگافرد دچار مسمومیت شد فوراًبه اتاق دیگر که دارای هوای آزاد باشد منتقل شود. در صورت حاد بودن، انتقال مسموم به کلینیک یا مرکز درمانی، تنفس مصنوعی دهان‌به‌دهان، دادن مایعات شیرین و لیمو در صورت که از هوش نرفته باشد از موارد است که باید برای شخص مسموم در نظر گرفته شود.

با این همه می‌شود گفت که آگاهی در این مورد سبب می‌شود تا خانواده‌ها در این فصل زمستان، قربانی این مرگ خاموش نگردند و نسبت به گاز گرفتگی و زغال گرفتگی، تشخیص، راه‌های وقایه و تداوی آن آشنایی بیشتر پیدا کنند.

# تر دې مهاله د تیرې اداري ۴۸۰ چارواکي او ګڼ شمېر علمي کدرونه هیواد ته راستانه شوي

له نن شاو خوا یو نیم کال وړاندې چې کله اسلامي امارت د واک واګې په لاس کې واخیستل، سره له دې چې د مشر تابه له لورې ټولو ته غفوه اعلان شوه، خو د تیر جمهوري نظام زیاتره لوړپوړي چارواکي د ولسمشر په ګډون له هیواد څخه ووتل او په نورو هیوادو کې یې استوګنه غوره کړه، د اسلامي امارت واک ته رسیدو نه یو څه موده وروسته یې د افغان شخصیتونو سره د تماس کمېسیون رامنځته کړ، تر څو هغه لوړ پوړې چارواکي او علمي کدرونه چې له هېواده وتلي یا پخوا هلته میشت وه، بېرته د یاد کمېسیون د تماس له لارې هېواد ته راستانه شي او په خپل هېواد کې له خپلو کورنیو سره د عزت ژوند غوره کړي.

دا چې د افغان شخیصتونو سره د تماس کمېسیون په هلو ځلو تر اوسه څومره چارواکي هېواد ته راستنه شوي او همدارنګه د یاد کمېسیون د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه د شریعت ورځپاڼې خبریال حسن خان اتل د یاد کمېسون له ویاند ښاغلي مولوي احمدالله وثیق سره مرکه کړې ده

پوښتنه: تر اوسه د پخواني رژیم څومره چارواکي او نور عام علمي شخصیتونه د تماس کمیسیون له لارې هېواد ته راستانه شوي؟

ځواب: له افغان شخصیتونو سره د تماس کمیسیون، چې له کومې ورځ کار پیل کړی دی، تر دې مهاله د دوی په بیا بیا هڅو د تیر نظام ګڼ شمېر چارواکي هیواد ته راستانه شوې دي او دلته ورته د مصؤنیت کارت ورکړل شوی دی، چې تر اوسه پورې ټولټال ۴۸۰ کسانو ته د مصؤنیت کارتونه ورکړل شوې دي او همدارنګه سلګونه نور هغه چارواکي چې لا تر اوسه په خارج کې دي، د خپلو احوالو د ثبت لپاره فورمې ترلاسه کړي دي، خو تر اوسه پورې یې د راتګ زمینه نه ده برابره شوې، کله چې د دوی ټول مراحل طی شي دغه کسان به هم هېواد ته را ستنیږي او زموږ امید دی، چې په نیږدې راتلونکي کې به د ډېرو کسانو د راتګ شاهدان واوسو، د یادونې وړ ده چې په راغلو چارواکو کې د وزیرانو، پارلمان غړي، لوړ پوړي نظامي جنرالان، والیان، د ولایاتو او ولسوالیو امنیه قومندانانو په کچه چارواکي او د دوی ترڅنګه هغه کسان، چې دلته کلونه کلونه له تیر جمهوري نظام څخه مطمین نه ول، هغه اشخاص هم هېواد ته راستانه شوې دي، په دوی کې تکړه تکړه ډاکتران، انجینران او د نورو مختلفو برخو ماهرین شامل دي.

پوښتنه: له څومره نورو هېوادوالو سره مو رابطه شوې؟

ځواب: تر دې مهاله خو سلګونو کسانو تماس نیولی دی او د تماس له برخې څخه یې خپلې فورمې تر لاسه کړې دي، مونږ هغه وخت له رسنیو سره جزیات شریکوو، چې کله دوی هیواد ته راستانه شي، د مصؤنیت کارت ترلاسه کړي او له خپلو کورنیو سره یو ځای شي بعد له هغې موږ جزیات له رسنیو سره شریکوو، اوس یوازې دومره ویلو شو، چې سلګونو کسانو هېواد ته د راتګ لپاره زړه ښه کړی دی او د ثبت لپاره یې فورمې ترلاسه کړې دي.

پوښتنه: د تېر حکومت هغه چارواکي چې له عمومي عفوې ور هاخوا، پر نورو مختلفو جنایتونو او فسادونو کې ښکېل دي، هغوی په څه ډول ضمانت هېواد ته راستنیږي، ایا قضیې به یې څېړل کیږي، که معاف دي؟ مثلاً ولسي خلک پرې څه عریضه کولای شي؟

ځواب: افغان شخصیتونو سره د تماس کمېسیون خپل تشکیل لري، دارالانشاء موجوده ده د تماس ځانګې دي، چې په دې کې یو قضایي بورد هم شته، چې څو تنه غړي لري. که چیرې په دغو راغلو کسانو باندې څوک حقوقي دعوه ولري دغه دعوه یې د قضایي بورد لخوا څیړل کیږي، چې یاده دعوه تر کومه حده حقیقت لري، که چیرته دوی شواهد وړاندې کړي قضایي بورد هڅه کوي، چې په قضایي بورد کې د دوی مشکل حل کړي او که چیرې دا مشکل یې دلته حل نه شي بیا یې نورو قضایي ارګانونو ته لیږي تر څو محکمه یې هلته وشي. تر اوسه پورې په راغلو کسانو باندې چې چا دعوه کړې ده، د دې ضرورت نه دی پیدا شوی چې نورو قضایي ارګانونو ته ولیږلی شي د دوی مشکل هم دلته په قضایي بورد کې حل شوی دی.

پوښتنه: د پخواني رژیم هغه چارواکي چې د تماس کمیسیون له لارې هېواد ته راستانه شوي، د هغوی له حاله خبر یاست، چا خو به ځورولي نه وي؟

ځواب: د تماس کمېسیون د اسلامي امارت له برجسته غړو څخه جوړ دی، چې په دې کې د دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت نماینده ګان، د استخباراتو عمومي رئیس، د خارجه وزارت سرپرست وزیر امیر خان متقي، د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ شهاب الدین دلاور چې د یاد کمېسیون مشرې هم په غاړه لري شامل دي. هر کله چې یو کس هېواد ته راستون شي له هغه وروسته د مصؤنیت کارت ورکول کیږي، چې دغه د مصؤنیت کارت په ټول هېواد کې د اعتبار وړ دی، تر دې مهاله موږ ته داسې کومه قضیه نه ده راغلې، چې کوم راستون شوی کس له تهدید سره مخ شوی وي او که چیرته کوم سوئ تفاهم شوی وي او راغلو کسانو له جملې څخه کوم یو له مشکل سره مخ شوی وي، موږ ورته په وخت رسیدګي کړې ده او مشکل یې حل شوی دی.

پوښتنه: هغه افغان علمي شخصیتونه چې د تماس کمیسیون له لارې هېواد ته راستنیږي، ایا د هغوی لپاره څه پلان شته چې د هېواد په ابادۍ کې ترې کار واخیستل شي، یا پر دندو وګمارل شي؟

ځواب: اوس دستي موږ په نظام کې په لکونو د تیر نظام مامورین لرو، چې په لوړو پوستونو کې هم شته، خو دغه کسان چې کله راستنیږي په لومړي سر کې له دوی سره دا وعده نه کیږي، چې تاسو ته دلته وظیفه درکول کیږي. دوی ته تر ټولو مهمه دا ده چې مصؤنیت یې وشي، سر او مال یې خوندي شي او په خپل وطن کې له خپلو قریبانو او دوستانو سره نږدې واوسیږي. وروسته کله که حکومت د خلکو او شخصیتونو ورتیا، تعهد، ژمنتیا او مسلکیتوب ته یې ګوري او له هغه وروسته حکومت د خپل لزوم دید له مخې کولې شي، دوی د حکومت په ادانه کې کار وکړي، لکه مخکې چې ما یادونه وکړه چې په لومړي سرکې دوی ته په دولت کې د دندې ورکولو ژمنه نه کیږي، ځکه چې افغانستان نیږدې څلویښت میلیونه نفوس لري، چې دا ټول د حکومت په چوکاټ کې نشي ځای کېدلی، چې ټول خلک دې د نظام په ادانه کې کار وکړي او نه دا ضروري ده.

پوښتنه: د خپل منځي اتحاد او اعتماد سازي په برخه کې د تماس کمېسیون هڅې څرنګه ارزوئ او بهر مېشتو افغان شخصیتونو ته څه پیغام لرئ؟

ځواب: د افغان شخصیتونو سره د تماس کمېسیون ایجاد ډېره لویه لاسته راوړنه ده او د خلکو لپاره یو ښه ادرس شو، هغه کسان چې د منفي تبلیغاتو په اثر باندې ویریدلي ول او هیواد یې پریښی و یا د هېواد په کومه برخه کې پټ پاتې شوي ول د هغوی لپاره یوه ښه دروازه شوه تر څو له دغه کمېسیون سره په اړیکه کې شي، له دې څخه خلکو ډېر ښه استقبال وکړ او موږ دا دی وینو چې د تیر حکومت څلور سوه اتیا (۴۸۰) کسان هیواد ته راستانه شول، چې دا د دوی لپاره یو ښه فرصت شو او خلک باید له دې موقع څخه استفاده وکړي، ځکه چې کوم عزت دلته هېوادوالو ته حاصل دی هغه عزت او قدر داني په بهر کې نه شي حاصلولی. مونږ بیا په ټولو هغو کسانو باندې چې د منفي تبلیغاتو په اثر باندې متاثره شوي دي، هغوی ته بلنه ورکوو چې له دې نیک فرصت څخه استفاده وکړي، د تماس کمېسیون سره اړیکه ونیسي او راشي په خپل هېواد کې له خپلو هېوادوالو سره یو ځای په عزت ژوند وکړي او مونږ دوی ته د بشپړ امنیت ډاډ ورکوو.

حسن خان اتل

# تعلیمي نصاب باید د وخت د تقاضا مطابق عیار شي!

**احمد منصور**

تعلیمي نصاب اوس ټولې نړۍ ته ډېر مهم دي او هر هېواد داسې یې عیاروي چې نه یې له دین، نه یې له کلتور سره په ټکر کې وي او تر څنګ یې د عصر اړتیا وړ مواد پکې ځای کول درک شوي وي خو په تاسف سره باید ووایم چې زمونږ د هېواد نصاب د څو یرغلونو سره بدل شوی د اشغالګرو له لور داسې مواد پکې ځای شوي پکار وو چې مونږ یې د طرقۍ لوړو پوړیو ته پرې رسولي وای خو برعکس ځوان نسل ته یې د دین اړوند شکوک ور پیدا کړي ، د پردیو له تاریخو یې آګاه کړي او په زړونو کې د غرب مینه ور اچولې البته ما خبره د مکتب د تعلیمي نصاب کوله مدرسه کې هم ځینو مضمونو ته اوس اړتیا نه شته خو پکې دي او ځینې باید پکې ځای پر ځای شي ، دا چې لیکنه را څخه اوږده نه شي په دې به تم شو چې دواړو مراکزو کې کوم مضمونونه ځای شي، کوم لرې شي.

لومړی د مکتب اوسنی تعلیمي نصاب ډېرې اصلاح ته اړتیا لري ځکه مخکې مو یادونه وکړه چې د مسلسو یرغلونو لاسوهنه پکې ډېره ده همدا ډول ځینې کتابونه دې ور اضافه شي د احادیثو یو یا دوه کتابونه، د مبارک (علیه سلام) سیرت او اسلامي تاریخ دې د نصاب برخه او څو صنفونو کې تدریس شي ځکه محصلین مو د دین له آدرسه کم معلومات لري او ډېر کله دغه کمي بیا په مسائلو کې د شکوکو پیدا کېدو لامل کیږي او ډېر کله بې ځوابه کیږي خواله رسنۍ کې یوه ویډیو مخې ته راغله چې د کرکټ پېښاور زلمي ټیم په دوبۍ کې یو مجلس جوړ کړی او یو هندي کمېډن/مزاقي یې ورته را بللی هغه له یوه پښتون لوبغاړي پوښتي چې څو کلن یې؟ پښتون ورته وایي ۲۲ کلن! بیا ترې پوښتي واده دې کړی؟ د پښتون جواب هو وي هندي کمېډن بیا ترې پوښتي پښتانه دومره ژر واده ولې کوي؟ پښتون ځواب ورکوي چې کورنۍ یې داریږي څو خراب نه شي! دا جواب له یوه لحاظه که وګورو ښه دی خو په بل لحاظ غیرې مسلم داسې فکر کوي چې ګواکې اسلام خدای مه کړه د شهوت پرستۍ دین دی یاد لوبغاړي که له اسلام معلومات درلودی ورته ویلي به یې وو چې نکاح د الله رب العزت امر او د نبي (علیه سلام) سنت دی او د کورني ژوند جوړېدا سالم نسخه ده نو ځکه په نکاح کې تلوار کوو.

د مدرسې نصاب کې که څه هم پکې اغیار لاس وهنه نه شي کولای ځکه د جوړېدا واک یې علماؤ سره وي خو ځینې مضامین داسې دي چې د اکثرو علماؤ په نظر د وخت اړتیا وه خو اوس یې په نصاب کې شتون هېڅ مفاد نه لري لکه منطق د دې مضمون یو وخت ضرورت ډېر وو او دور یې وو مخالفینو سره به پرې مناظرې ډېرې کېدې زما په نظر که د منطقو پر ځای د نړۍ والو ژبو ، کمپیوټر زده کړې ته څو درجو کې ځانګړې ساعتونه خاص کړل شي.

همدا ډول سیرت او اسلامي تاریخ هم د مهمو مضمونو له جملې وشمېرل شي، جالبه دا ده چې سیرت تنها اوس په څلورمه درجه تدریس کیږي او منطق دوه درې درجو کې شتون لري ځینې شاید ووایي چې سیرت له ځان سره هم مطالعه کولای شي خو باید ووایو چې کوم باریکۍ او نکتې د استاذ له لور په تدریس کې درته معلومیږي په ځان ته مطالعې کې یې نه شې پیدا کولای

او یو مهمه بله موضوع چې باید مخکې مې یادونه کړې وی هغه د لیکوالۍ زده کړه ده باید هم په دیني او هم په عصري مراکزو کې کورس یې جبري شي ځکه مونږ په دې برخه کې انتهایي غریبان یو دز مونږ لیکوالان عربي لیکوالانو ته په طمعه وي چې که څه ولیکي مونږ به یې وژباړو زه وایم دا مهارت مونږ ولې ځان کې پیدا نه کړو تر کله به بل ته طمعه او انتظار کوو؟ باید په هېوادنۍ ژبو کتابونه ولیکو څو نور زمونږ د کتابونو ژباړې ته ضرورت حس کړي .

دا او کېدای شي نور ډېر مواد وي چې ځای کول ، لغوه کول یې هم اړتیا وي او هم مفید تمام شي ما صرف هم دا درک کړل که تاسو محترمو ته معلوم وي باید ویې نه سپموو مشرانو سره د مشورې او نظر په توګه یې شریک کړو.

# د فرهنګي مبارزینو د پام وړ!

**مولوي نورالحق مظهري**

فرهنګي مبارز وروره! پدې کې شک نسته چې ستا مبارزه مقدسه او مهمه ده خو ددې لپاره چې مبارزه دې نوره هم مؤثره واقع سي او د فرهنګونو او فکرونو د اصلاح سبب سي لاندي شیان په پام کي ونیسه:

۱ - هیڅ وخت په داسې شیانو کي مه رغېږه چې په اړه یې پوره معلومات نلرې او د داسې شیانو په اړه تبصرې مه کوه چې تا ته یې دقیق معلومات نه وي؛ الله جل جلاله فرمایي: ژباړه: هغه شي پسې مه ځه کوم چې تهورباندي علم نلري، یقینا چې غوږونه او سترګي او زړه د هر یوه په هکله د دوی څخه پوښتنه کیږي.

یعني په هغه شي پسې مه ځه کوم چې ته ورباندي خبر نه یې، او هغه خبره مه کوه کومه چې ته یي په ثبوت باندي یقین نه لرې.

۲ - د شرعي مصلحت څخه په استثناء هیڅ وخت درواغ مه وایه ځکه د درواغو ویل د انسان ایمان په خطر کي اچوي؛ په اثر کي راځي: ژباړه: قیص بن ابي حازم وایي: ما د ابوبکر رضي الله عنه څخه واورېدل چې ویل یې: ځانونه د درواغو څخه وساتئ ځکه درواغ د ایمان لیري کوونکي دي.

یعني درواغ ویل د ایمان د زوال سبب جوړیږي.

۳ - د چا سره په مقابله کی ښکنځل او سپکي سپوري خبري مه کوه د دې ترڅنګ چې په ښکنځلو باندي د خبري تأثیر او خوند له مینځه ځي ناروا او حرام کار هم دی؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی:

ژباړه: مسلمان باید طعن ویونکی، لعنت ویونکی، ښکنځل کوونکی او بد ویونکی نه وي.

٤ - د باطل په وړاندي باید تل ثابته پالیسي او ښکاره موقف ولرې په حدیث شریف کي راځي:

ژباړه: د حذیفه رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بې موقفه مه جوړېږئ چې تاسي وایاست: که خلګو ښه کول موږ هم ښه کوو، که خلګو بد کول موږ هم بد کوو بلکي ځانونه پر دې باندي مجبور کړئ چي که خلګو ښه کول تاسي هم ښه وکړئ او که خلګو بد کول تاسي ظلم مه کوئ.

یعني د ځانه څخه هیڅ وخت بې موقفه او بې رأیي انسان مه جوړوه بلکي همیشه باید د ځان لپاره ثابته او مثبته پالیسي ولرې، په هر څه کي دي موقف معلوم وي او د هر شي په وړاندي روښانه دریځ ولرې! داسي مه کوه چې خلګو ته ګورې او په کړنو کي هغوی د ځان لپاره مقتدا او مشران جوړوې، که هغوی ښه کول ته هم د هغوی په پلوۍ ښه کوې او که هغوی بد کول ته هم بد کوې ځکه د مسلمان سره داسي متزلزله او مبهمه پالیسي مناسبه نه ده.

قال عبد الله بن مسعود: لا یکونن أحدکم إمعة. قالوا: وما إمعة؟ قال: یجري مع کل ریح. [مساوئ الاخلاق۲۸۷]

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمایي: د ځانه څخه بې موقفه مه جوړوئ! چا پوښتنه وکړه چي بې موقفه څنګه شی دی؟ هغه ورته وویل: هغه څوک چي له هر باد سره روان وي. یعني د هر چا په ډول پالیسي او فکر غوره کوي او د ځانه څخه ثابت موقف نلري.

٥ - پر خپل مسلمان ورور هیڅ وخت ناحقه او بې ثبوته خبره مه کوه ځکه د دې تر څنګ چې بې ثبوته خبره انفرادي او اجتماعي فساد د ځانه سره لري تاوان یې خپله انسان ته رسیږي؛ په حدیث شریف کي راځي: ژباړه:

د ابوذر رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چي په مسلمان پوري ناحقه خبره وتړي چي دده عیب په ښکاره کوي الله تعالی به دی د همدغه خبري په خاطر د قیامت په ورځ دوږخ ته واچوي.

نو کوښښ وکړه چې په هیڅ مسلمان پسې بې ځایه خبري او تبلیغات ونکړې او د هیڅ مسلمان د معیوب ښکاره کولو کوښښ ونه کړې چي خدای مه کړه په همدې سبب دوږخ ته داخل نسې.

٦ - کوښښ وکړه چي د هر مسلمان په غیاب کي د هغه دفاع وکړې په خاصه توګه د خپلو مشرانو او علماو کرامو؛ په حدیث شریف کي راځي: ژباړه: اسماء بنت یزید وایي: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چي ویل یې: هر څوک چي په غیاب کي د خپل ورور د غوښو حمایت وکړي الله پاک به یې اورمرو د اور څخه آزادوي.

یعني څوک چي د خپل مسلمان ورور په غیاب کي د هغه څخه دفاع وکړي، اتهامات ورڅخه لیري کړي او چاته یې د غیبت کولو اجازه ورنه کړي الله پاک به دی د قیامت په ورځ د جنهم د اور څخه وساتي.

۷ - د هر چا سره باید ستا دوستي او دښمني د الله لپاره او د دین پر اساس وي د قوم و وطن پر اساس باید نه وي؛ رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایي: وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ ».[صحیح مسلم ۷۰۲۸]

ژباړه: څوک چي عمل یې وروسته کړي نسب یې نسي وړاندې کولای.

یعني د چا چي عمل سم نه وي او په عمل باندي مخ ته ولاړ نسي په نسب باندي مخ ته نسي تللای.

۸ - د خپل دعوت او مبارزې لپاره د مصلحتونو او حکمتونو څخه ډکي طریقې انتخاب کړه او په ښه تګلاره حق د خلګو تر غوږو پوري ورسوه؛ الله جل جلاله فرمایي: ژباړه: په هغه خصلت باندي دفع وکړه چي ډېره ښه وي نو هغه څوک چي ستا او دده تر مینځ دښمني وي ستا سره به داسي سي لکه صمیمي دوست.

یعني په ښه طریقه د ځان څخه بدي دفع کړه تر څو ښه تأثیر وکړي او دښمنان درته داسي وګرځي لکه صمیمي ملګري او دوستان.

۹ - نیک اخلاق غوره کړئ او د هر چا سره د نبوي اخلاقو پر اساس مقابله وکړئ ځکه د نیکو اخلاقو غوره کول ددې تر څنګ چي خپل ډېر مثبت تأثیرات لري د انسان پر ښه توب او غوره والي باندي هم دلالت کوي په حدیث شریف کي راځي:

إِنَّ مِنْ أَخْيَرِكُمْ أَحْسَنَكُمْ خُلُقًا.[صحیح البخاري۶۰۲۹]

ژباړه: یقینا بهترینه ستاسي هغه څوک دی چي ښه اخلاق ولري.

۱۰ - د چاپلوسۍ او دوه مخي سیاست څخه ځان وساتئ ځکه دوه مخی سیاست او چاپلوسي د منافقینو عادت دی مسلمان باید ځان ورڅخه وساتي؛ امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسیر کي وایي: إنما کان ذو الوجهین شر الناس، لأن حاله حال المنافق، إذ هو متملق با لباطل وبا لکذب. [حاشیه صحیح ابن حبان]

ژباړه: دا چي دوه مخی انسان د ټولو خلګو شریر وبلل سو په دې خاطر چي دوه مخی انسان داسي دی لکه منافق؛ ځکه دوه مخی انسان په باطل او درواغو باندي چاپلوسي کوي.

۱۱ - د خپل اسلامي نظام څخه دفاع وکړئ ځکه دا نظام په ډېرو قربانیو باندي راغلی دی او د اسلامپالو لپاره یواځنې ځاله ده، که خدای مه کړه ددې نظام په سمبالولو او ساتلو کي ناکام راځو دا به موږ ته د ټول وخت لپاره د محرومیت معنی ولري او د نورو منحرفو انسانانو خبري به راباندي جوړې سي چي دین د حکومتولۍ څخه بېل بولي او اسلام د نظام چلولو لپاره کافي نه بولي.

د اسلامي نظام او مسلمان باچا په ارزښت باندي باید موږ خپل سر خلاص کړو او خپل ټول توان د اسلامي نظام ساتلو او مسلمان باچا پلوۍ لپاره وکاروو؛ په اثر کي راځي:

عن عثمان بن عفان رضي الله عنه أنه قال: إن الله لیزع بالسلطان ما لا یزع بالقرآن.[شرح سنن أبي داود لعبدالمحسن العباد]

ژباړه: حضرت عثمان رضي الله عنه فرمایي: الله پاک په باچا باندي داسي شیان دفع کوي چي په قرآن باندي یې نه دفع کوي.

یعني مسلمان باچا دومره مهم دی چي ډېرې جرائم او تخلفات دده په ذریعه باندي د ټولني څخه ختمیږي هغه چي په قرآن باندي نه ختمیږي ځکه ډېر خلګ قرآن لولي او تلاوت یې کوي خو هیڅ ورڅخه نه متأثره کیږي سره ددې چي په قرآن کي د ګناه کوونکو او مجرمینو لپاره ډېرې سزاګاني هم راغلي دي خو د مسلمان باچا له وېرې ډېری خلګ د جرم څخه لاس اخلي دا ځکه چي مسلمان باچا مجرمینو ته عملا مجازات ورکوي له همدې امله په اسلامي نظام کي د جرمونو کچه ډېره ټیټه وي.

نو اوس چي الله تعالی موږ ته اسلامي نظام راکړی دی باید دفاع یې وکړو او ترڅنګ یې ودرېږو ترڅو مو نظام سمبال او ټینګ سي.

۱۲ - تقوی غوره کړئ! تقوی د هر مسلمان لپاره لازمه ده خو د مبارز لپاره تقوی ځکه په نسبي ډول ډېره اړینه ده چي په تقوی باندي د مبارز په کړنو کي برکت او معنویات پیدا کیږي چي په نتیجه کي به یې استقامت په برخه سي او په مبارزه کي به یې الله تعالی خاص او ځانګړی چټک تأثیر کښېږدي.

په آخره کي درته وایم: دا نظام هم د خدمت دی هم غیرت بناء چي څومره مو په هره برخه کي خدمت په طاقت وي ویې کړئ او چي څومره مو توان وي ځانونه غیرتمند ونیسئ.

په اسلامي نظام کي د هرچا مثبت لیدلوري ته په درنه سترګه کتل کیږي نو ځکه د هر مسلمان مبارز لیکنه، وینا او مشوره ارزښتناکه بلل کیږي او اعتبار ورکول کیږي.

په اسلامي نظام کي فعال شخصیتونه ځکه ډېر مهم دي چي نظام په خپل سمبالښت او پرمختګ کي هغوی ته اړتیا لري او د نظام په اداري تشکیلاتو کي ددوی شتون د قوت سبب او د بقاء علت جوړېدلای سي.

له همدې امله هر مسلمان مبارز چي مخکې د ټولني د اصلاح لپاره څومره مبارزه کوله اوس یې باید د نظام سره په همږغۍ څو برابره وکړي او چې هر با غیرته وګړي په کومو ځایونو کي شرعي غیرت کا اوس یې باید د مسئولینو سره په مشوره نور هم غښتلی کړي.

# حماقت او نښې یې

**لومړی برخه / مفتي عادل**

حماقت په لغت کې کساد (ناچلي اوکوټه والي) ته ویل کیږي. اوپه اصطلاح کې دعقل کموالي او فساد ته ویل کیږي.

مطلب داچې د چاعقل کم وي او یایې په عقل کی خرابي موجوده وي؛ نو دغه صفت ته حماقت وایي، همداراز که په کوم انسان کې دغه صفت وي؛ هغه ته کم عقل او احمق ویل کیږي.

**داحمق اوجاهل تر منځ توپیر**

۱_احمق انسان محال (ناشوني)کارته دممکن (کیدونکي)په سترګه ګوري اوجاهل انسان بیا د محال او ممکن کار ترمنځ تمیز نه شي کولای.

۲_احمق ته صواب(حق) معلوم وي، خو بیا هم عمل نه ورباندي کوي اوجاهل بالکل صواب اوخطا نه سره پېژني.

دمثال په توګه: یوه خبره چې دیو مجلس نه وي او دخبرې کول زیان لري؛ نو احمق انسان ته یې زیان معلوم وي، خو په هغه برسېره هغه خبره کوي اوجاهل ته دا نه وي معلومه، چې دغه خبره دلته زیان لري کنه.

**په قرآنکریم کې دحماقت غندنه**

عقل ته په اسلام کې ډېر ارزښت ورکول شوی دی، آن تر دې چې الله تعالی عقل ته زړه ویلی دی: ژباړه:

بې له شکه دپخوانیو قومونو په هلاکت کې دهغه چا لپاره پند نغښتی دی، چې زړه ولري.

یعني لکه یوانسان چې په زړه سره ژوندی وي، داسې مثال دعقل هم دی، څوک چه عقل نلري؛ لکه زړه چې نلري او هغه په مثال د مړه دی.

قرآنکریم دحماقت غندنه کړې ده لکه الله تعالی چې د دوزخیانو په اړه فرمایي: ژباړه:

او په تحقیق سره موږ د جهنم لپاره ډېر پیریانان او انسانان داسې پیدا کړي دي، چې دوی زړونه لري، خو د شي درک پرې نه شي کولای، دوی سترګې لري خو شی په لیدلای نه شي او دوی غوږونه لري خو شی پرې اوریدلای نه شي، دوی د څارویو په څېر دي، بلکې تر څارویو هم ډېره ترې لاره ورکه ده او دوی غافلان دی.

په دغه آیت کې الله تعالی یوازینی شی چې دوزخیان یې پرې غندلي دي؛ هغه دادی چې، دوی زړونه لري خو دشي دراک وربانديې نه شي کولای، یعني بې عقلان دي.

امام نووي (رح) فرمایي:یقیناً احمق هغه څوک دی، چې دیوکار په ضرر خبر وي، خو بیایې هم کوي.

دامام نووي (رح) دغه تحقیق ته په کتلو سره؛ اصلي احمقان کفار اومنافقین دي؛ ځکه دوی تر هرڅه دګټور شي (اسلام) په بدله کې تر هرڅه زیانمن شی(کفر) خوښ کړی دی.الله تعالی فرمایی: ژباړه: دوی (کفار اومنافقین) هغه څوک دي چې دهدایت په بدل کې یې ګمراهي ترلاسه کړه.

نوربیا ان شاء الله تعالی.

# دوفادارۍ ميرمنې صداقت

**فريد احمد مبارز**

د سعودي په رياض ښار کې يو شتمن کس اوسيده، کله چې يې د مرګ شيبې رانږدې شوې، نو خپل اولادونه يې راوغوښتل او څه وصيتونه يې ورته وکړل. مشر زوی ته يې وويل: ما په پټه له يوې فيليپينۍ ميرمنې سره واده کړی دی، دغه يې پته ده، نومورې د فيليپين په يوې اسلامي سيمه کې اوسيږي. زويه! د هغې په حق کې زما غاړې خلاصې کړئ (د ميراث حق يې ورکړئ).

پلار يې وفات شو، مشر زوی او نور ورونه يې قاضي ته د ميراث ويشلو لپاره حاضر شول، مشر زوی ته يې د پلار وصيت ورپه ياد شو او قاضي ته يې ټول حال ووايه. قاضي ويل: د ميراث ويش دې تر هغه وخته پورې وځنډول شي، تر څو چې ستاسو ميره حاضريږي. ورونو مشر ورور فيليپين ته وليږه. هغه د خپلې ناوې مور لټون پيل کړ، او تر سخت لټون وروسته يې هغه او د هغې کور پيداکړ. دروازه يې وټکوله ګړی وروسته يوه باحجابه ښځه را ووتله، ځوان خپلې ميرې ته ځان معرفي کړ. هغې وويل: هو! زه ستا د پلار ښځه يم او خبر مې تر لاسه کړ چې ستا پلار وفات شوی دی، الله سبحانه وتعالی دې يې وبخښي.

ځوان ورته وويل: موري! د قاضي امر دی چې تاسي بايد د ميراث ويشلو پر مهال حضور ولرئ، بناءً ته بايد زما سره رياض ته ولاړه شې. ښځې ويل: ښه دی، د سفر تيارۍ يې وکړ او رياض ته روان شول. بله ورځ د ميراث ويشلو لپاره ټول د قاضي حضور ته حاضر شول. ښځې ته د خپل خاوند په ميراث کې اته (٨) لکه ريال ور ورسيدل. ښځې له مشر زوی څخه وغوښتل چې د عمرې لپاره يې مکې ته بوځي، هغه هم د خپلې مور غوښتنه ومنله او د عمرې ادا کولو په نيت روان شول. له عمرې ادا کولو وروسته ښځه له خپل نيکه سره بيرته خپل پلرني ټاټوبي فيليپين ته روانه شوه.

وروسته له (٤) کلونو يې مشر زوی هيله لرله چې د خپلې مور سره ليدنه وکړي او فيليپين ته سفر وکړي. ځوان فيليپين ته روان شو کله چې خپل د مور کور ته ورسيده، ويې ليدل چې د کور دننه او بهر هيڅ نوی بدلون او بيارغونه نه ده راغلې. لکه څنګه چې يې کور په لومړي ځل ليدلی وو، پر هم هغه حالت پاته وو. زوی يې ځيني وپوښتل: موري! په ميراث کې چې کومې پيسې تا ته ورسيدلې هغه دې په څه شي مصرف کړلې؟

ميرې يې ورته وويل: زما سره راځه چې د ښار مرکز ته ولاړ شو. د ښار مرکزته په تلو سره د اسلامي زده کړو يو مرکز ته ورسيدل.

چې په مرکز کې دارالحفاظ، مدرسه او يتيم خانه موجوده وه. هغې وويل: لوړ وګوره او د مرکز نوم ولوله! ځوان وکتل چې د مرکز پر لوحه يې د پلار نوم ليکل شوی وو، ميرې يې وويل: زويه! دا مرکز مې ستا د پلار په نوم کړ، تر څو د هغه لپاره تلپاتې صدقه شي. ځوان وژړل او له خپل پلار سره ددې ښځې په اخلاص او وفادارۍ حيران شو. ځوان چې کله له فيليپين څخه رياض ته راستون شو، نو په هماغه ورځ يې له خپلو ورونو سره وکتل او هغوی ته يې ټوله کيسه وکړه. ټولو ورونو په اتفاق سره د خپل پلار لپاره د اصال ثواب په خاطر پنځه (٥) ميليونه ريال يو ځای کړل د خيريه کارونو او پروژو يو مؤسسه يې پرې تأسيس کړه. سبحان الله! دې ښځې دوی ته په دې نړۍ کې وفاداري او د آخرت مينه ور وښودله.

# فيمينزم (Feminism)

**دويمه برخه / لطف الرحمن قمري**

اسلام په کې څه وايي؟

ترهر څه وړاندې بايد ووايو چې فيمينزم او جندر په حقيقت کې د الهي فطرت سره د ټکر او تضاد خوځښت دی او هغه شيطاني عمل دی چې شيطان يې په اړه له پخوا خپله اجنډا اعلان کړې او قرآن کريم رانقل کړې ده: ژباړه: او زه به هرومرو دوی ګمراه کړم او خامخا به يې په باطلو اميدو کې واچوم او هرومرو به ورته امر وکړم چې هرومرو به دوی د چارپايانو غوږونه څيروي او زه به خامخا دوی ته امر وکړم پس هرومرو به دوی د الله تعالی پيدايښت ته تغير ورکوي.

په مخکې ګڼو کې مو وويل چې فيمينستان په خپل منځ کې يو موټی او يوه خوله نه دي بلکې په بيلابيلو ډلو ويشل شوي، چې هره يوه يې تر شا ځانګړې فلسفه لري، له دې څخه دا په ډاګه کيږي چې فيمينزم په خپله کومه ځانګړې فلسفه او تصور نه لري بلکې د لويديځ د بيلابيلو فلسفو پر بنسټ ولاړ ټولنيز خوځښت دی چې د ښځې د حقوقو د لاس ته راوړلو شعار يې پورته کړی دی. دا په حقيقت کې د لويديځ د منځنيو پيړيو د ظلمونو غبرګون دی چې د اروپايي رنسانس په غيږ کې زيږيدلی او ټولې غوښتنې او شعارونه يې هماغه وخت او ځای ظلمونه او تيري انځوروي په بله ژبه ويلای شو چې فيمينزم په حقيقت کې د اروپايي محرف مسيحيت په وړاندې د قيام پايله ده. لدې کبله په هيڅ ډول نشو کولای چې فيمينزم د ټول انسانيت يا د ټولو اديانو په اړه د حق معيار او تله وګرځوو او دا ځکه چې اروپايي رنسانس انسان د کليسا له رنډې واکمنۍ څخه خلاص کړ، خو د عقل په عبادت يې روږدی کړ، او په خپل وار يې انسان باندې د معرفت سرچينې محدودې کړې، کليسا د حق د معرفت سرچينه يوازې کليسايي ( د دوی په اند وحياني احکام ،بلل خو عقل ګرايانو بيا يوازې عقل د معرفت سرچينه وګرځوله او د Humanism دانسان د اصالت د فلسفې پر اساس يې انسان ته الهي کارونه وسپارل په هر حال پدې موضوع زيات نه غزيږو، يوازې دومره وايو چې فيمينستانو هم د همدې فلسفې پر بنسټ له ټولو اديانو انکار وکړ ، د معرفت سرچينه يې يوازې عقل وګڼله په ټولنه کې يې د دين د حاکميت او پر وحي باور او عقيده له منځه يوړه او په دې توګه يې يوازې د اسلام سره نه بلکې د ټولو اديانو سره جګړه اعلان کړه. بل پلو ته که فيمينستانو وکولای شول چې ښځه د کورنۍ له چاپيريال څخه راوباسي او په ټولنه کې يې د نارينه سره اوږه په اوږه ودروي. د دې په بدل کې يې له ښځې څخه په ټولنه کې د هغې د قدر او احترام ستر لاملونه مور ولي او ميرمن توب هم واخيست کوم چې په ټولنه کې د ښځينه د تاثير او اغيز اساسي توکي و او په ټولنيز مشارکت کې يې د ښځې ونډه څرګنده کړې وه.

اسلام د کايناتو په اړه ځانګړې نړۍ ليد لري، او د اسلام ټول کلي او فرعي احکام پر همدغه نړۍ ليد ولاړ دي، د اسلام له نظره د نارينه او ښځينه جوړه هم د کايناتو د نورو جوړو په شان د انساني نوع د بقاء، لپاره په ځانګړي جوړښت او دندو سره رامنځ ته شوې ده. الله تعالی فرمايي: ) ژباړه: مونږ له هر څه نه دوه جوړې پيدا کړي دي ترڅو تاسې پند واخلئ. لکه څرنګه چې په نورو حيواناتو يا نباتاتو کې د ښځينه او نارينه دندې سره توپير لري په همدې توګه په انسان کې هم د نارينه او ښځينه دندې د هغوې د جوړښت له وخته او پر هماغه اساس ويشل شوي دي او همدا د انساني نوع د بقاء، اساسي لامل دی او په دې دندو کې د هر ډول ګوتووهلو سره به انساني نوع د خطر سره مخ کيږي، وروسته به د دې مدعا ښکاره شواهد وړاندې کړو. دلته د يادونې وړ ده چې فيمنستان په عمومي توګه دغه کلي نړۍ ليد په پام کې نه نيسي او هڅه کوي چې د دې په غياب کې په وړو وړو مسايلو (حقوقو يا مسؤليتونو) قضاوت وکړي.

چې ډير ځله ساده لوحه او بې علمه خلک هم دا انګيري، چې ګواکې د دوې خبره سمه ده. اسلام د ښځينه او نارينه تر منځ په ذاتي مساوات او وظيفوي ويش قايل دی، له همدې کبله اسلام . کله چې نارينه او ښځينه مسئوليتونه او حقوق بيانوي، هلته بيا د پورتني اصل پر اساس يو ځانګړی انډول په نظر کې نيسي.کوم حقوق يا مسئوليتونه چې د انساني ذات پورې تړلي دي، هلته ښځينه او نارينه سره يو شانته دي، الله تعالی فرمايي: ژباړه: اې خلکو! موږ تاسو له يوه نارينه او يوې ښځينه څخه پيدا کړئ او بيامو تاسو قومونه او قبيلې وګرځولئ، ترڅو چې تاسو يوبل سره وپيژنئ. په حقيقت کې دالله ج په وړاندې ستاسو څخه تر ټولو زيات عزتمن هغه څوک دی چې هغه په تاسو کې تر ټولو زيات پرهيزګار وی. [د حجرات سورت (١٣) ايت] خو په کوم ځای کې چې د ټولنيزې دندې او وظيفې پر اساس مسئوليت يا حق ورکول کيږي، هلته بيا د دندې په تناسب مسئوليت يا حق ورکول شوی دی. د دنيا په هيڅ قانون کې هم دا نشته چې د حقوقو په ورکولو کې دې د شخص اجتماعي وظيفه په نظر کې ونه نيول شي. په دې توګه چيرته چې په اسلام کې د ښځينه او نارينه تر منځ په حق يا مسئوليت کې يو تربله د فضيلت خبره رامنځ شوې ده، هغه ذاتي ،فضيلت نه بلکې وظيفوي فضيلت دی. الله تعالی فرمايي :ژباړه: او څه چې الله ج ستاسو څخه ځينوته د ځينو نورو پرتله زيات ورکړي دي، د هغو هيله مه کوئ؛ د نارينه و برخه د هغو له کړو سره سمه او د ښځو برخه د هغو له کړنو سره سمه ده. هو ! له الله ج څخه د هغه د فضل دعا ګانې غواړئ په دې کې شک نشته چې الله ج په هرڅه پوه دی. [د نساء سورت (٣٢) ايت] . د اسلام له نظره همدا د ښځې بيالوژيکي جوړښت او دندې دې چې په ټولنه کې د ښځې ټولنيزې دندې ترسيموي. الله تعالی چې د ښځې او نارينه دندې سره ويشلي، له پيله يې د هغوی جوړښت، د هغوی د دندو په تناسب جوړ کړی دی. ښځينه د خپل ماشوم د پالنې لپاره قوي عاطفې ته اړتيا لري

او د دې په مقابل کې يې عقلانيت کمزوری دی، چې په حديث کې تري په ناقصات العقل تعبير شوی دی، دا کار الله تعالی د ښځې د سپکاوي يا تحقير لپاره ندی کړی بلکې د يو ټولنيز ضرورت پر بنسټ الله تعالی همداسې اندازه کړی دی. ) وخلق کل شئ فقدره تقديرا دا الهي اندازه ګيري ده بل پلو ته نارينه ته عاقبت انديشي ورکړل شوې ده چې د دنيوي چارو د ښه سمبالښت لپاره اړينه ده. په همدې پورتنې حديث کې وګورئ چې رسول الله صلي الله عليه و سلم له يوې خوا ښځې ته د ناقصات العقل خطاب کوي او دحديث په پای کې وايي چې د دوی عاطفه بيا دومره قوي ده چې د خپلې عاطفې په زور تر ټولو حازم او هوښيار سړی هم را پرځوي ما رايت من احداکن اذهب للب رجل حازم، له همدې کبله . نارينه د ښځې د عاطفی په وړاندې کمزوری دی، ښځې ته يې امر کړی دی، چې ځان په پرده کې وساتي. ځيني فيمينستان بيا داسې انګيري چې ګواکې د ښځينه دغه بيولوژيکي تفاوتونه يا دندې د ښځينه په غوره والي او ځانګړتيا دلالت کوي، خو بلې خوا ته بيا د نارينه د غوره والي لاملونه او ځانګړتياوې نه مني. يو بل حقيقت چې فيمينستان يې هم مني خو ځواب ورته نلري، هغه دا دی چې الله تعالی د ټولنې د پرمختيا لپاره په يو شان انسانانو کې ځانګړي استعدادونه ايښي دي، چې بايد هر څوک د خپل استعداد په ډګر کې توظيف شي او ترې کار واخيستل شي که چيرې د مساوات په نامه دا ټول په يو کار وګمارل شي يا هرڅوک د خپل استعداد سره سم توجيه نشي او خپلې خوښې ته پريښودل شي، د ټولنې بقا د خطر سره مخ کيږي. پر دې اساس الله تعالی د انسان د دوه سترو جنسونو نارينه او ښځينه – لپاره د هغوی د استعداد په تناسب د کار ډګرونه ښودلي دي چې هر څوک بايد خپله ټاکلې وظيفه ترسره کړي.

# علم الفريضه کوم علم ته وايي؟

**امين وردک**

امام محمد غزالي (رحمة الله عليه) په کيميای سعادت کې هغه حديث شريف ته څومره ښه تفسير ورکړی چې حضرت محمد (صل الله عليه و آله و سلم) فرمايلي: ((طلب العلم فريضةٌ علی کل مسلمٍ و مسلمةٍ)) ژباړه: حاصلول د علم فريضه ده پر هر مسلمان او هرې مسلمانې.

خو دلته پوښتنه دا پيدا کيږي؛ چې (علم الفريضه) نو کوم علم دی؟ همدغې پوښتنې ته امام غزالي صاحب داسې تفصيلي ځواب ويلی : په دغه علم کې د علماؤ تر منځ اختلاف دی او هغه داسې؛ متکلمين وايي چې دا (علم الکلام) دی؛ ځکه چې معرفت د حق تعالی په علم کلام سره حاصليږي.

فقهاء بيا وايي چې نه دا (علم الفقه) دی؛ ځکه چې حلال او حرام د فقهې په واسطه پيژندل کيږي.

محدثين کرام وايي: دا (علم الکتاب والسنة) دی؛ ځکه چې اصل د شرعي علومو همدغه دوه دي.

صوفيان بيا وايي چې نه! دا (علم تصوف) دی؛ ځکه چې الله پاک ته د بنده لاره د هغه له زړه څخه پيليږي.

ګواکي هر چا د خپل علم تعظيم کړی او خپل مسير (علم الفريضه) ګڼي؛ مګر موږ بيا بل ډول تعريف لرو او هغه داسې : موږ به د زمان او مکان مطابق تحليل کوو او هر علم به پر خپل ځای فرض، يا واجب ګڼو.

د بېلګې په توګه: که يو کافر د ځاښت پر مهال مسلمان شي او يا نابالغ کس بالغ شي نو په دغه وخت کې پر ده يوازې د (لااله الاالله محمد رسول الله) پر مانا پوهېدل او بيا پر هغې د زړه تصديق فرض دی، نه نور علوم.

لاندې فرمايي چې: که يو کس د ځاښت پر مهال مسلمان او بيا د کليمې پر مانا پوه شو، نو پر ده د ماسپښين د لمانځه فرضيات فرض دي چې زده يې کړي، ورپسې په خپل خپل وخت مازديګر، ماښام، ماسخوتن او سهار.

تفسير ته ادامه ورکوي او فرمايي: کله چې يو څوک مالک د نصاب شي، نو پر هغه دغه وخت فقط د زکات ادا کولو شرائط او ارکان فرض ګرځي، نه نور علوم.

چې حج ته اراده وکړي، نو بيا د حج د شرائطو او ارکانو زده کول پرې واجبيږي.

چې کله د رمضان مياشت را ورسيږي نو د رمضان اړوند موضوعات ورباندې فرضيږي.

لاندې بيا له علم اديان څخه علم الابدان ته وتلی او هلته هم همدغه حديث شريف تطبيقوي! د طبيب لپاره طبابت فرض ګڼي، د تاجر لپاره د تجارت اصول او د کاسب لپاره د صنعت شرائط او اصول فريضه بولي ؛ بيا د اميرالمؤمنين حضرت عمر فاروق هغه دُرّې هم استدلال ګرځوي چې د راکړې ورکړې په شرعي اصولو ناخبرو تاجرانو ته به يې تحذيراً ورکولې او هغوی به يې لومړی د تجارت د علم زده کولو ته اړباسل، بيا به يې په بازارونو کې د کار بار اجازه ورکوله.

دغه ستر نابغه (رح) دومره غرق تللی چې ان د غاښونو پر ډاکټر يې هم د غاښونو علم واجب بللی او پر حجام د حجامت او بيا يې فرمايلي چې: پر دوی فقط خپل خپل علوم واجب دي، نه دا چې يو د بل علوم به خامخا زده کوي.

تصوف ته هم ورغلی او هلته يې فقط دومره علم فرض عين ګڼلی چې زړۀ بايد له کينې، حسد او کبر څخه خالي وي او علاج يې هم فرض عين ګڼلی دی.

علم البيع، رهن، سلم او اجاره يې کفايي بللي ،فقط پر هغوی يې واجب ګڼلی چې نېغ په معاملاتو کې مشغول (يانې تاجر يا دوکاندار) وي.

د اعتقاد په برخه کې يې فقط د شک في الذات والصفات ليرې کولو کې علم العقائد فرض عين ګڼلی.

خلاصه دا چې امام غزالي (رحمة الله عليه) هر هغه علم فرض ګڼي چې انسان يې عمل ته حاجت لري! يانې دی وايي چې؛ هر څوک که په هر فن کې کار کوي، پر هغه د همغه فن علم فرض دی خو پدې شرط! چې فنون د شريعت په چوکاټ کې وي، نه بهر! ګواکې په حرامو صنعتونو او فنونو کې فرضيت نشته.

يادښت: امام غزالي (رحمة الله عليه) هغه خلک غرق کړي چې دنياوي علوم مباح ګڼي او الحمدلله زما د هغې مقالې هم ښه تصديق وشو چې عنوان يې ؤ((څوک وايي چې دنياوي علم مباح دی؟)) زما د دې مقالې له چاپېدلو مياشت وروسته د کانونو او صنايعو وزير (شيخ صاحب شهاب الدين دلاور) هم دنياوي علوم لازمي وګڼل او د اباحت له تعصبي محدودې څخه يې پاک وايستل.

## شعر و ادب

# غزل

**ثاقب خپلواک**

د تخلیق کیف چې دې کړلې زمانې ټولې ودانې
د تکوین سِر ته دې ، واړه له پېړېو نه حیرانې
له خواږه خوبه یې، واړه کائنات دې پاڅولې
په نغمو د الاهو شوې، زموږ سیمې مسلمانې
د قدرت نخښې دې،گورم په رکوع د شنه اسمان کې
د غرور هیلې یې کړلې په سجدو د ځمکې ورانې
د جرس غوندي شرنګېږي، د فضا په پسته غېږ کې
ستا ثنا په ترنم وایې، قطار زانې روانې
پېغلې څانګې رپېدلې، د زلمی چنار په مینه
زمزمې د الرحمن مې اورېدلې پر ما ګرانې
چې په ذکر کړي، د لمر حوره خورې زرینې وړانګې
ښکلوي په پستو شونډو، ښکلې پاڼې قدردانې
زه خپلواک د سپوږمۍ سپینې پلوشې غېږ کې رانیسم
د ښایست سیند یې لاهو کړې، زمونږ مستې هیلې ځوانې

# څه به نه وایمه!

**ملادور محمد ګوهري**

خوله به ګونګۍ شونډې به پرې کړم څه به نه وایمه
ژبه به هم ټوټې ټوټې کړم څه به نه وایمه
پرېږده چې لولپه شي هیلې د حقبینو خلقو
زه به یې هسې تماشې کړم څه به نه وایمه
د پلرنۍ میراني شناختې به مې ونړوم
ښکته به یې زه لوړې شملې کړم څه به نه وایمه
په ارزو ګانو او روا هیلو به اور پورې کړم
وروستي بڅرې بې ایرې کړم څه به نه وایمه
تور ته به تور نه وایم سپین به زیاتي سپین نه بولم
ددې توپیر شمعې به مړې کړم څه به نه وایمه
وینم د حق جنازه ووځي د باطل له لاسه
په دې به هم سترګې ړندې کړم څه به نه وایمه
نور به ګوهر پسې دریاب غوپې ونه وهم
د ساحل څنډې به لمبې کړم څه به نه وایمه

# غزل

**حفیظ الله باغبان**

د ښـــایســـت قــــدر دې چېرې د رندو په بازار نه شي
مزلــــونه ټکني شي چې دبـــــل پــــه واک کې تلــــه شي
د منطــــق ژبــــه چې نــــه وي خامــــوشي به وي حاکمه
ارمـــانونه به دې زړه کې پــــه ګیلـــــو ،ګیلـــــو ویده شي
د ریـــبار غـــــېږ دې ورک شـــوی او د حـــال په ژبه وایي
اشـــنا لاړه د بــــل چــــا شــــو زندګي به دې ونه شي
په بې ذوقه انســـــانانو د ښـــکلا سنــــدرې پلــــورې
دا ســــــودا به دې ونــــــه شــــي او زړګی به دې اوبــــه شي
چې مجلس دې پرې ښایسته وي او له زړونو مینه وېشي
د (باغبان) نو بیا په داسې ښــــو یارانو زړګی ښــــه شــــي

# د ژبې ساتل!

**ساجدالله عظمت**

بنده چې د خپل رب جل جلاله د دین او د دین د احکامو او حدود ساتنه کوي، نو یو ډول ساتنه دا ده، چې خپله ژبه وساتي او د دې ژبې کار او دنده هم نا اشنا ده او خبره یې هم نا اشنا ده؛ ځکه ټول ناوړه کارونه، ګناهونه او نافرمانۍ له ژبو څخه پیښیږي. نو (لا اله الا الله) دا ژبې څومره عزتونه پایمالوي. او (لا اله الا الله) په څومره نافرمانیو کې پرېوزي. الله تعالی د خپلو صالحو دوستانو په ستاینه کې وایي: ژباړه: او هغه کسان، چې له چټي څیزونو مخ اړونکي دي.» د مؤمنون سورت، (۳) آیت. او لغو: هر هغه څیز چې په اخرت کې ګټه نه لري او یا هر هغه شی، چې په اخرت کې زیان او تاوان اړوي. او الله تبارک وتعالی د خپلو صالحو دوستانو په مدح کې وایي: «اې مؤمنانو! له الله جل جلاله څخه وډار شئ او ښه رښتیا خبره کوئ. الله جل جلاله به ستاسو د ګټې لپاره ستاسو کارونه سم کړي او ستاسو ګناهونه به وبښي. او کوم شخص چې د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت کوي، نو هغه داسې بری ترلاسه کوي، چې هغه ستر بری دی.» د احزاب سورت، (۷۰ او ۷۱) آیتونه. او خورا عجیبه دا ده، چې هر انسان د خپلو اندامونو د ساتلو ډېره هڅه کوي او کله چې په دې غړیو کومه ګناه ورڅخه پیښه شي، د هغه په تریخوالي هم پوهیږي، پرته له ژبې څخه. نو ډېر لږ یو انسان د هغه له خطره د ساتلو کوښښ کوي. نو ژبه څومره په معاصیو (نافرمانیو) کې وچلېده او دواړو پریښتو له ناوړه او بدو خبرو څخه څومره ولیکلې، په هغه کتاب (عملنامه) کې یې وکښلې، چې خاوند به یې ډېر ژر ووینې او ولولي او (بیا) به په هغه ورځ پښېمانه شي چې پښېمانتیا به ګټه نه کوي. «یو لفظ د انسان له خولې څخه نه راوزي، خو پر هغه یو څارونکی تاکلی وي، هر وخت (د لیکلو لپاره) تیار.» د ق سورت، (۱۸) آیت. او ډېر ځله داسې کلمې (ویناوې) وي، چې د ویونکي له خولې ووژي او هغه یې سپکې وګڼي، خو دی جهنم ته پرې لاړ شي! او ډېرې د خیر ویناوې وي، چې د ویونکي له خولې وزي، هغه ګومان نه کوي، چې دی به چېرته ورسوي، خو الله تعالی په هغه سره خپل همېشنی رضوان ورته ولیکي! ډېر ځله ژبه په غیبت او نمامت سره روانه وي! او ټوکو او ملنډو سره چلیږي! یا دروغ وایي او د ټګۍ لارې برابروي! او یا یې د چټیاتو او لانجو (بحثونو) بازار ګرم کړی وي! حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه به ژړل، ژبه به یې راوېستله او ویل به یې: «هذا اوردني الموارد!»

او عبدالله بن مسعود رضی الله به ویل: «په الله قسم! له ژبې پرته بل هیڅ څیز هم د اوږده بند او حبس مقدار نه دی.» د سړي د خپلې ژبې ساتنه دا ده، چې د هر هغه څه لپاره یې متوجه کړې، چې هغه د دې دین خدمت کوي او له (ناولیو) دندو دې ځان ساتي. او دا هغه حسان بن ثابت رضی الله عنه و، چې په خپل شعر او قصیدو به یې د الله جل جلاله د دین ملاتړ کاو، نو الله تعالی د هغه ساتنه کوله.

هغه به د اسلامي دعوت مدح کوله او د رسول کریم صلی الله علیه وسلم ستاینه به یې کوله او هغه د قریشو د مشرکانو په غندنه کوله نبي علیه السلام به هغه ځان ته نږدې کاو منبر ته به یې پورته کاو ورته ویل به یې: «أهجهم ـــ او قال هاجهم ـــ و جبریل معک» «۳» یانې: د هغوی غندنه وکړه (بدي یې بیان کړه) او جبریل علیه السلام له تا سره دی. نو هغه رضی الله عنه به د هغوی غندنه کوله امام زهري وایي: له ټولو څخه ډېر ویاړمن (له ویاړه ډک) بیت، چې عربو ویلي، هغه د حسان رضی الله عنه دا بیت دی چې د بدر په ورځ یې په بدر کې ویلی و نو هغه د جنت لور ته د بلونکو شاعرانو قائد (مشر، سرلاری) و، ځکه الله جل جلاله د هغه ساتنه کړې. حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلو او ورته ویې ویل: یا رسول الله!

فثبت الله ما اتاک من حسن
تثبیت موسی نصرا کالذي نصروا

د عقبې په ورځ یې خپل نفس خرڅ کړ، لکه څنګه چې ابن قیم رحمه الله وایي: اخیستونکی او خرڅونکی تر هغه خیار لري، تر څو چې دواړه نه وي سره جلا شوي، نو بیا چې دواړه سره بېل (جلا) شول، نو بیع واجبه شوه.

هغه (عبدالله رضی الله عنه) مؤته غزا ته لاړ، بیا کله چې صفري ساعت را ورسېده، پهلوانانو (اتلانو) ته ورکوز شو، زغره یې ووېستله، توره یې واخیستله صحابه کرامو رضی الله عنهم کله چې له هغه سره په مدینه کې خدای په اماني کوله، ورته ویې ویل: اې د رواحه زویه! په سلامتیا او عافیت سره راستون شې، هغه ورته وویل: نه. له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې خدای په اماني وکړه، ویې ژړل او کله چې په اس سپور و او مدینې ته یې وکتل، هغه خپله مېرمنه او خپل ماشومان پرېښودل او له اصحابو کرامو رضی الله عنهم څخه یې خپل ملګري پرېښودل او له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پرته یې یوه سړي ته هم ور ونه کتل. کله چې هغو ورته وویل: مونږ تا په خیر خیریت سره ګورو. هغه وویل: نه. ابن رواحه رضی الله عنه هلته شهید شو او روح یې جنت ته والوته. نو کله به چې اصحاب کرام رضی الله عنهم د ده له قبر سره تېرېدل، په ده به یې سلام اچولو، بیا یې ویل: «یا ارشد الله من غاز وقدر شد.» او دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم ستایونکی او مدحه کوونکی و او همدارنګه د هغوی ژبې د جنت په یاد، په جهاد او له دین نه په دفاع کې بوختې وې.

او په مقابل کې امرؤ القیس د دوزخ ته د دعوتګرو شاعرانو بیرغچي و، خپله ځواني یې په ګناه او نافرمانیو کې ضایع کړه، نو الله جل جلاله دی ضایع کړ! له ښځو او شرابو پرته یې بل څه نه پېژندل، بیا ضایع او هلاک شو. له فاجرانو او بدکارانو څخه یو ابن هاني اندلسي و. یوه ورځ خلیفه ته ورغی او ویې ویل:

ماشئت لا ماشاءت الاقدار
فاحکم فانت الواحد القهار

ژباړه: هغه چې ته یې غواړې، نه هغه چې تقدیر یې غواړي، نو ته فیصله وکړه، همدا ته الواحد القهار یې!

نو الله جل جلاله هغه ته وروښوده چې الواحد القهار څوک دی؟ او الواحد القهار رب جل جلاله ښه درس ورکړ، څو ترې هېر نه شي چې الواحد القهار څوک دی!؟

هغه له مانۍ ووت، نو په داسې ناروغۍ اخته شو، په خپل فرش پروت و او د سپي غوندې به غپېده او ویل به یې: ته الواحد القهار یې د لبنان له منحرفو فاجرو بدکارو شاعرانو څخه یو قروي و. هغه په دمشق کې ښکته شو (مېلمه شو)، نو خلکو هغه په اوږو سپور کړ، لاسونه یې ورته ټکول، نو ده وویل: نو الله جل جلاله داسې راونیو، څنګه چې د یو ستر برلاسي راګیرول وي، هغه (قروي) یې سپک کړ، نو په حمام کې مړ شو، څو ورځې وروسته خلک پرې پوه شول، چې د سپي په څېر (مرداره جیفه) ګرځېدلی و، څو الله تعالی هغه پوه کړ چې دی (الله) الواحد الاحد دی.

ایلیا ابوماضي، چې یو فاسد شاعر دی، وایي:

جئت لا أعلم من أین؟ ولکنني أتیت
ولقد أبصرت قدامي طریقا فمشیت
وسأبقی سائر ان شئت هذا أم أبیت
لست أدري لست أدری

ژباړه: راغلم، ولې نه پوهېږم، له کومه ځایه؟ خو راغلم
او مخې ته مې لاره ولیده، نو روان شوم
او همداسې به روان یم، که دا ستا خوښه وي او که نه
زه خبر نه یم، زه خبر نه یم

مونږ هغه ته وویل: نه خبر شوې او نه دې ولوست. او مخ دې واړاو او نافرماني دې وکړه، ګناه دې وکړه، تېروتنې دې تکرار کړې او کبر غرور دې وکړ. نو الله جل جلاله هغه راونیو او د یو ستر برلاسي غوندې یې راونیو، بیا هغه (ایلیا) په ډېر بد ناوړه حالت کې مړ شو.

# راځئ! پر خپلو خلکو او نړۍ زیري وکړو!!

**جبریل سعد**

که ځیر شو په دښمنانه رسنیز او تبلیغاتي تخنیک کې زموږ د پرمختګونو او لاسته راوړنو پوښښ او یا لږ تر لږه یوه سر سري یادونه هم ځای نه لري، بلکې لا که زموږ خپل رسنیز او تبلیغاتي فعالیت کې یې د پرمختګ عنصر ځواکمن، انځور یې ولس او نړۍ ته څرګند او فکر یې یو څه عام شي، یاد تخنیک یې په یو ډول منفي او داسې اړخ لټوي چې دغه عنصر، انځور او عام فکر یې پرې له منځه یوسي او همدې اړخ ته یې او یا ورسره په هم مهال ډول نورو منفي موضوعاتو او اړخونو ته پر هوا ورکولو سره پرمختګونه او لاسته راوړنې پېکه کړي، بشپړ یې له عام فکر او پامه وغورځوي، له صحنې یې وباسي او نه یواځې دا، بلکې لا تېر شل کلن اشغال چې کومې نادودې او ویرونه راوړل او ورته کار یې وکړ؛ دغه دښمنانه تخنیک یې لا هم د اړوند راتلونکي په اړه ویر او وېره اچوونکې وړاندوینې کوي، همدا لامل دی چې د اشغال راوړیو نادودو او ویرونو له منځه وړلو په ټولو برخو کې د اسلامي امارت د لومړیتوبونو د درجه بندۍ او مهالوېش له مخې په تدریجي ډول که د ځمکنیو واقعیتونو او رښتینو حقائقو په توګه هر څومره پرمختګونه او لاسته راوړنې را منځته هم شوې او ورځ تر بلې لاپسې چټکې او وده هم پیدا کوي؛ په تناسب یې پر یاد تخنیک داسې رسنیز او تبلیغاتي توکي چمتو او رسنیو ته مصروفیت را منځته کېږي چې نه یواځې له واقعیت او حقیقته لرې اټکلیز ویر او وېرې اچونې وي، بلکې رسنۍ هم پرې د رښتینو وضعیتونو له انعکاسه لرې وساتي، پر حقائقو او واقعیتونو ګرد او سیوری واچوي او په دې ډول عام پام او فکر ترې پر بل خوا واړوي چې اوس په لویه کچه پرمختګونه او لاسته راوړنې داسې دي چې زېري یې نه دي شوي او د کومو چې زېري شوي؛ دښمنانه رسنیز او تبلیغاتي تخنیک یې هم ښه په خوند ننګولی او ټکولی.

نو راځئ! پر خپلو خلکو او نړۍ زېري وکړو چې د جګړې بشپړ پای، د اسلامي نظام او شریعت پلي کېدل، داډمن امنیت، د ښښې فرهنګ په رامنځته کولو د نړدې نیمې پېړۍ سیاسي او جنایي خصومتونه یو مخ هوارول-ځای یې د ورورولۍ پر فضا ډکول-مخه یې ډب کول، د اسلامي ملي نظام په رامنځته کولو د اسلامي او افغاني ورورګلوۍ پر بنسټ د ټولو قشرونو او لړکیو ترمنځ رښتونی ملي یووالی راوستل، د کوکنارو پر کرهنې-بهرنیو اسعارو-د وسلو ګرځ او ساتنې په ګڼون ګڼو مواردو کې بندیزونه، لرغونی اسلامي او رښتونی افغاني کلتور را ژوندي کول، د مېرمنو پرده، زده کړه ییز بهیر کې یې په زړه پوري اصلاحات، پوهنیز نصاب کې ژور بدلونونه، د پوهنې او روغتیا په برخو کې ګڼ پرمختګونه-لاسته راوړنې-اسانتیاوې، له نشیي توکو سره د مبارزې په برخه کې د پرېکنده ګام په توګه د سلګونه جریبه کرل شویو کوکنارو اړول-زرګونه روږدي کسان را ټولول-درملنه یې، له بېوزلۍ او لوږې سره د مبارزې په برخه کې د هېواد په نږدې ګوټ ګوټ کې له بېوزلو سره نغدي-خوړن توکو-اجناسو مرستې-په کابل او ځینې نورو ولایتونو او سیمو کې د لسګونه زره سوالګرو را ټولول-کفالت یې، د اقتصاد او پر ځان د بسیاینې پر ټولو لارو چارو-طبیعي زېرمو-انکشافي ذخېرو-د ملي عوائدو ټولو کورنیو او بهرنیو مدارکو-اړوندو ګڼو پروژو باندې عملي کار او ملي خزانې ته ډېر څه ترې را ټولول او لا نور ډېر څه ته لاره ایستل او پرانیستل، د ولس لسګونه زره حقوقي مسائل د اسلامي شریعت په رڼا کې د شرعي محاکمو لخوا څېړل او هوارول، د جرمونو او جنایاتو کچه صفر ته را ټیټول، د ځمکو غصب پر مخنیوي سربېره د زرګونه هکتاره ځمکو له غصبه خلاصو او امارتي تثبیت یې، د اشغال د پاتې شونو او استخباراتي پروژې په توګه بغاوتګر او فتنه ګر بشپړ ځپل، د وروستیو طبیعي آفتونو چې په تېرو ۲۰-۲۵کالو کې بې ساري و؛ اغېزمن مدیریت او ځپلیو ته یې پر وخت رسېدګي، ټولګټې او د بیا رغونې ګڼې پروژې-قراردادونه-لنډ مهالې او اوږدمهالې پلانونه، د اړتیا او امکاناتو پر تناسب ډېرو برخو ته پر یو وخت پاملرنه، په دې ګڼو مواردو کې د سیمې او نړۍ هېوادونو-شرکتونو-پانګوالو جلب او ښکېلول، کورنۍ او بهرنۍ بې پرې سیاست او پالیسۍ او پر وړاندې یې د ګرد نړیوالتوب انعطاف، له اوږدې انزوا وروسته له نړیوال حیثیت سره چې نړۍ په یوه خوله راسره تعامل اړین او د خپل بهرنۍ سیاست برخه او اړتیا یې ګڼي؛ له لومړي سره اسلامي او پرمختللیو هېوادونو ته نږدې کېدل، له سیمې او نړۍ سره مخ پر ودې ډیپلوماټیکې او اقتصادي اړیکې او دغه فصل د رسمیت پېژندنې پر دروازه درول، د نړۍ پر مخ یو بې ساري خلافت ورمه اسلامي نظام او حکومتولي چې د ټولې اسلامي نړۍ ورته سترګې او کفري هغه ترې په اندېښنه کې ده؛ په همغسې بې ساري ښه ډول پر مخ وړل، پر کوم هود چې مو وسله وال جهاد تر دې بریا را رسولی؛ پرې د جهاد پاتې ارمانونو پراوونه را لنډول او ګڼ نور دا ډول او هم یې په ضمن کې په جزوي شکل ټول هغه پرمختګونه، لاسته راوړنې او زېري یې دي چې د تېر شل کلن اشغال راوړیو نادودو-ویرونو-ورته کړي کار د اغېز له منځه وړلو په برخه کې یې لرو، دښمنو رسنیو او تبلیغاتو پرې پر خپل تخنیک سیوری او ګرد پرېیستی-عام فکر او احساس یې ترې اړولی او کمزوری کړی او د ځمکنیو واقعیتونو او رښتینو حقائقو په توګه د اسلامي امارت د لومړیتوبونو مهالوېش له مخې په تدریجي ډول را منځته شوي او ورځ تر بلې لاپسې چټک او وده پیدا کوي.

موږ یواځې د دې پرمختګونو او لاسته راوړنو مسئول نه، بلکې د هېواد، ولس، نظام، چارواکو، پالیسیو او دریځونو او د وروستیو دغو پرمختګونو او لاسته راوړنو په اړه د ویجاړ شوي عام فکر، احساس او پر وړاندې مو را پارول شویو کرکو د کنترول او مهار مسئولیت هم را له غاړې دی او لاره یې هم له همدې رسنیز او تبلیغاتي ډګره د زېریو پر مټ د عام فکر او احساس پر ښه کول دي او ترڅو چې پرې د یاد اشغال د نادودو او ویرونو اغېز او د دښمنو رسنیو او تبلیغاتو سیوری او ګرد پاتې وي، عام فکر او احساس ترې رغېدلی نه وي او موږ پکې پرمختګونه او لاسته راوړنې لرو؛ د زېریو رسنیز بهیر ته به دوام ور کوو. خو یواځې پر نظام او رسنیز او تبلیغاتي ارګان یې نه، بلکې هېواد، ولس او نظام ته ژمنتیا او د اسلامي امارت ملیتوب پر اثبات رسولو لپاره او په دا ډول تبلیغاتي شرائطو کې تر نظام او تبلیغاتي ارګان یې پر ولس او ځوانانو دغه مسئولیت ډېر را ګرځي او پکې د هغوی بشپړه ښکېلتیا تر بسې اړینه ده، ترڅو د دغو زېریو لومړۍ سرچینه او پیل پر ملي احساس له همدوی وي او بیا یې پر استازولي د ملي نظام په حیث اسلامي امارت او د هغه تبلیغاتي ارګانونه له رسمي دریځ او آدرسونو د دولتي هلوځلو پر مټ پوښښ ورکړي او داسې منفي ښه او اړخ ونه لري چې ګڼې دښمن تبلیغات او رسنۍ به ترې ناوړه ګټه پورته کړی شي. دا چې اسلامي خوځښت، اسلامي امارت، جهادي مقاومت او تر اوسني اسلامي نظامه راتګ مو ګرده د ملیتوب ځواکمن عنصر پر مټ و او اوس اسلامي امارت هم یو بشپړ ملي نظام دی؛ د زېریو رسنیزو او تبلیغاتي بهیر مو هم مهمه ده د یوې ملي پروسې له لارې چټک او غښتلی شي چې په پرمختګونو او لاسته راوړنو کې د نظام ټولې ښکېلې اداري او رسنیز او تبلیغاتي ارګانونه هېواد او خلکو ته ژمنو، ملي، خپلواکو او ازادو رسنیو او رسنیزو-مدني فعالانو ته اړوند ډېرڅه پر وخت لا په واک کې ور کړي او هغوی بیا د اسلامي امارت له رسنیزو او تبلیغاتي ارګانونو او پالیسیو سره پر همغږۍ او پر ټول توان واقعیتونه یو-یو پر بېلابېلو شکلونو مثبت انعکاس کړي، نو به شونې وي رسنیز او تبلیغاتي ډګر او پکې عام فکر او احساس مو فتحه کړی وي، له لارې مو یې تقریباً د نړۍ پر مخ بشپړ ۹۷٪ سلنه اغېزمنو ته د دلته بلا ګڼو بېلابېلو برخو او پړاوونو په اړه واقعي او حقیقي روحیه او انګېزه ور کړې وي او نور دغه ډګر د بشر، اسلام او افغان دښمنۍ په لاس او استعمال کې نه وي.

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی ازفقره(۲) ماده چهل سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود اینکه ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی درنظردارد قرارداد: (تهیه مواد ساختمانی،برق و آبرسانی در دیپوی قوماندانی عمومی لوژستیک برای قول اردوهای ساحوی و قطعات و جزوتام های مرکزی) سال مالی ۱۴۰۱.
تحت شماره داوطلبی نمبر
(MOD-1401-G-C0105 -22416) را به شرکت های مشترک ساختمانی اکمان عبید،عدنان الهام و مسعود حامد (JV) دارنده جواز نمبرهای (D-02- 370,D-24233,54485)به قیمت مجموعی مبلغ(۳٤،۹۰۳،۵۲٤) سی و چهار میلیون و نهصدو سه هزار و پنجصدو بیست و چهار افغانی اعطاء نماید.
اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را ازتاریخ نشر این اعلان الی هفت (۷) روز تقویمی طورکتبی توام با دلایل آن به مدیریت تدارکات امور ساختمانی ریاست تدارکات واقع خواجه بغراء مقیم گارد سابقه، بلاک (۵) منزل (۲) اتاق نمبر(۲۱۳) ناحیه پانزده شهرکابل وفق احکام ماده پنجاه (۵۰) قانون تدارکات ارائه نمایند.
این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده والی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی ، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم سلطان محمد فرزند دین محمد یک عراده موتر پلیت ۷۷٦٤٤-۳ش کابل نوع تویتا لندکروزر زرهی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای موسسه وارچایلد انگلستان به نماینده گی رحیم الله فرزند عبدالرحمن بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ٤۰۵۸

***

### اطلاعیه مفقودی

یک طغرا مهر مربوط موسسه خیریه و خدماتی کارا مفقود گردیده بناء از اعتبار ساقط می باشد. ٤۰٦۱

***

### اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی زوجیت خط شرعی مرتبه محکمه مرافعه ولایت کابل به اسم محمد سلیم سلیم فرزند محمد عالم مفقود گردیده اعتبار ندارد.٤۰٤۸

***

### اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی دارای نمبر ٦۰/٤۸۷ مورخ ۱۳۹۸/۲/۳ به اسم عبدالزاهد شاه فرزند عبدالرازق شاه و محترمه زرمینه بنت سلام خان مفقود گردیده اعتبار ندارد.٤۰۵۰

***

### اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی به اسم احمد شکیب فرزند عبدالشکور و محترمه قدسیه بنت نعمت الله مفقود گردیده اعتبار ندارد.٤۰٤۵

***

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد زوجیت خط شرعی مرتبه محکمه مرافعه به اسم محمد سلیم سلیم فرزند محمد عالم مفقود گردیده اعتبار ندارد.٤۰٤٦

***

### اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی دارای نمبر ۲٤۲۳/۹۱٦ به اسم محمد سلیم فرزند محمد عالم و محترمه احسانه سلیم بنت سیدا گل مفقود گردیده اعتبار ندارد.٤۰٤۷

***

### اطلاعیه کرایه دهی

مدیریت املاک سروبی موازی ( ۱۲۰) جریب زمین دولتی واقع شیر خان که سالانه مبلغ ۹٦۰۰۰ افغانی برای مدت ۳۰ سال با محترم عباد الله و گل ولی عقد قرار داد میگردد اشخاص که خواهش مزایده آنرا داشته باشند از نشر اعلان الی مدت ۷ یوم به مدیریت املاک سروبی مراجعه نمایند.٤۰٦۰

***

### اطلاعیه کرایه دهی

مدیریت املاک سروبی موازی (جمله ٤۵ ) زمین دولتی واقع شیر خان که سالانه مبلغ ۳٦۰۰۰ افغانی برای مدت ۲۰ سال با محترم رحمت گل و غازه گل عقد قرار داد میگردد اشخاص که خواهش مزایده آنرا داشته باشند از نشر اعلان الی مدت ۷ یوم به مدیریت املاک سروبی مراجعه نمایند.٤۰۵۹

***

### اطلاعیه به اجاره دهی زمین

به تعقیب مکتوب شماره (۱۳۵۰-۸٦٦) مورخ ۱٤٤٤/۵/۱۹ خویش موازی (۵۰۰) جریب زمین للمی ملکیت دولتی واقع ( ولسوالی ساحه خلم جناح غوند والگاه ولایت سمنگان) را که قبلا تثبیت گردیده و آماده جاره دهی به منظور زراعت ، مالداری و مرغداری میباشد ، برای بار دوم مدت ۷ یوم مطابق طرزالعمل استفاده موثر زمین و املاک دولتی جهت اجاره به مقاصد متذکره به اعلان میگذارد.
اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراک در پروسه مزایده جایداد های فوق را داشته باشند ، میتوانند بعد از تاریخ نشر این اعلان الی مدت ۷یوم درخواستی های شان را به ریاست توسعه سکتور خصوصی و انکشاف زمین واقع تعمیر پامیر وزارت زراعت ، آبیاری و مالداری منزل اول تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.٤۰٤۹

# افغان اعلانات

***

### اطلاعیه داوطلبی

وزارت ترانسپورت وهوانوردی مساحت ۹ متر مربع جای واقع انستیتوت هوانوردی را جهت ایجاد کانتین خوارکه فروشی به کرایه میدهد. اشخاص حکمی و حقیقی که خواهش به اجاره گرفتن ساحه متذکره را جهت فعالیت کانتین داری به شکل مزایده داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده روز درخواست های خویش را به آمریت املاک ریاست مالی و اداری وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصار وات بسپارند ، شرطنامه برای متقاضیان در بدل مبلغ ۳۰۰۰ افغانی بدون باز پرداخت توزیع میگردد.٤۰۵٤

***

### اطلاعیه داوطلبی

وزارت ترانسپورت وهوانوردی یک باب دفتر به مساحت (۱۲۸٦) متر مربع جای واقع منزل اول ترمینل محلی میدان هوائی بین المللی کابل را جهت فعالیت دفتر داری به کرایه میدهد. اشخاصیکه خواهش به اجاره گرفتن ساحه متذکر را جهت فعالیت دفتر داری به شکل مزایده داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده روز درخواست های خویش را به آمریت املاک ریاست مالی و اداری وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصار وات بسپارند ، شرطنامه برای متقاضیان در بدل مبلغ ۳۰۰۰ افغانی بدون باز پرداخت توزیع میگردد.٤۰۵۵ـ

***

### اطلاعیه لیلام

موسسه دی آر سی یک تعداد اجناس مختلف النوع از قبیل میز و چوکی ایرکندیشن پرنتر و اسکنر و غیر را در دفتر ساحوی خویش وواقع خواجه مسافر پغمان به تاریخ ۱٤۰۱/۱۲/۱ به لیلام میرساند .٤۰٤۳

***

### اطلاعیه تغیراسم دواخانه

محترم محمد ذکریا فرزند غلام علی ولدیت ضامن علی دارنده تذکره نمبر ( ۷۳٤۲۵٦ ) مسکونه اصلی ولایت میدان وردگ مالک دواخانه گدل کندهاری واقع ناحیه سیزدهم ولایت کابل عنوانی این اداره عارض وخواهان تغییر اسم دواخانه خویش از گدل کندهاری به اسم میلاد علی زاده گردیده است . اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۳روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.٤۰۲٤

***

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی دارای ویزه کشور پاکستان به اسم محمد اسماعیل حبیبی فرزند حبیب الرحمن مفقود گردیده اعتبار ندارد.٤۰۸۸

***

### اطلاعیه داوطلبی

وزارت ترانسپورت وهوانوردی یک باب دفتر به مساحت (۱۳،٦۵) متر مربع واقع منزل اول ترمینل محلی میدان هوائی بین المللی کابل را جهت فعالیت دفتر داری به کرایه میدهد.
اشخاصیکه خواهش به اجاره گرفتن ساحه متذکره را جهت فعالیت دفتر داری به شکل مزایده داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده روز درخواست های خویش را به آمریت املاک ریاست مالی و اداری وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصار وات بسپارند ، شرطنامه برای متقاضیان در بدل مبلغ ۳۰۰۰ افغانی بدون باز پرداخت برای توزیع میگردد.۲۱۳۹

***

### اعلان فروش داغمه جات

ریاست کار،حفظ ومراقبت شاروالی کابل به تعداد (۱۲۱٦) قلم اجناس داغمه که شامل(۸۷۰)قلم پرزه جات ۹۵ قلم بطری باب ۱۳۲ قلم تایر باب مختلف السایز۵۵ قلم افزار کار٦۱ عراده وسایط مختلف النوع یک عراده موتر سایکل و دوقلم بیلرهای خالی قیر مایع خویش را به تاریخ۷-۱۲-۱٤۰۱ از طریق داوطلبی به فروش میرساند.
اشخاص وافرادی که خواهش خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ تعیین شده با تذکره خویش واقع سیا سنگ مربوط ناحیه هشتم به دفتر مدیریت محاسبه جنسی مراجعه نمایند تضمین ۱۵ فیصد قبل از شروع پروسه داوطلبی نقدا اخذ میگردد.٤۰۳٤

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

بدینوسیله به تاسی ازفقره (۲) ماده چهل سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود وزارت دفاع ملی درنظردارد. اعطاءقرارداد تعداد (۱۱۲)قلم ظروف ولوازم تجهیزات مطبخ وطعام خانه ها ضرورت قطعات جزوتامها موسسات وادارات مرکزی مجاهدین وزارت دفاع ا.ا.ا برای سال مالی ۱٤۰۱ از روش داوطلبی باز
دارای نمبرتشخصیه : (MOD-1401-G-Q0025 -22702)
به قیمت مجموعی مبلغ(۳۳,٤۳۹,٤٤٦) افغانی با شرکت خدمات لوژستیکی همت حماد آدرس سرک چهارم پروژه تایمنی ،مرکز کابل،کابل ذریعه حکم نمبر(۷۰۳۷) مورخ ۱٤٤٤/۰۷/۱۵ مقام محترم وزارت دفاع ملی تائید گردیده است : در صورتیکه اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را ازتاریخ نشراین اعلان الی مدت هفت روز تقویمی طورکتبی توام بادلایل آن به ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی واقع خواجه بغرا بروفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده والی تکمیل معیاد فوق الذکروطی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

### اطلاعیه عام تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، وزارت امور شهدا و معلولین در نظر دارد تا پروژه ساختمانی آهن پوش بام گدام مرکزی وزارت امور شهداء و معلولین دارنده نمبر تشخیصیه MMD/1401/NCB/W-01 خویش را به شرکت ساختمانی سلطان افغان دارنده جواز نمبر (D-27892) محل اصلی تجارت مقابل شاروالی هلمند، لشکرگاه-هلمند به قیمت مجموعی مبلغ (۲,۰۷۲,۳۵۰) دو میلیون و هفتاد دو هزار و سه صد و پنجاه افغانی اعطاء نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت تدارکات وزارت امور شهدا و معلولین واقع سرک میدان هوائی کابل، ایستگاه قلعه خیاط وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

### اطلاعیه تصمیم اعطا ی قرار داد

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل وسوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود که وزارت زراعت، آبیاری ومالداری در نظر دارد تا پروژه (تدارک ٦۱ قلم قرطاسیه باب به شمول رنگ های پرنتر و کاپیر مورد ضرورت معینیت زمینداری) وزارت زراعت آبیاری ومالداری تحت ریفرنس نمبر MAIL/PD/NCB/G91/ 1401 را به شرکت محترم اقرا لوژستیکی دارای جواز نمبر (D-34301) به قیمت مجموعی مبلغ ۱,۲۳۲,۱٦۰ افغانی (یک ملیون و دوصد سی و دو هزار و یک صدشصت افغانی) اعطا نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشراین اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست تهیه وتدارکات وزارت زراعت، آبیاری و مالداری واقع کارته سخی، جمال مینه، وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده والی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرار داد منعقد نخواهد شد.

***

### د ځمکی د اخیستلو کرایی قرار داد

ښاغلی محمد یوسف د زرخان زوی د هوټلونو دولتی شرکت ۲۱۸ باب دوکانونه د سروبي ولسوالی کي اقع د ۱۵۰۰۰۰۰ یو میلیون او پنځه سوه زره افغانی سرمایه ګذاري او اول کال فی دوکان د میاشتی ۵۰۰ پنځه سوه افغانی د هر کال په تیریدلو سره (۲٪) دوه سلنه په زیاتوالی سره کرایه باندی د ۵ پنځو کلونو لپاره په اجاره اخلی.
دولتی او شخصی موسسات او انفرادی اشخاص چي په لوړه بیه باندی د اجاره اخیستلو غوښتوونکی وی ، خپل غوښتنلیکونه دي ۳۰ نمبر کور کارته سه اووم سړک کي واقع د هوټلونو دولتی شرکت د تهیی او تدارکاتو آمریت ته وسپاری شرطنامه مطالعه او خپله ۱۴ روځی وروسته د داوطلبی په مجلس کي برخه واخلی ۱۵۰۰۰۰ یو سلو پنځوس زره افغانی تضمین نقدا اخیستل کیږی.
د ضرورت په صورت کي د دغه ۰۷۱۱۸۷۸٦۱۱ شمېره سره اړیکه ونیسی.۳۹۱۹

***

### اطلاعیه لیلام

قرار است وزارت امور خارجه به تعداد (۱۷۹۳) یک هزار و هفت صدو نود سه شماره اموال داغمه مختلف النوع خویش را به تاریخ ۱٤۰۱/۱۲/۸ با حضور داشت هیت موظف به پروسه داوطلبی گذاشته ، و بفروش رساند.

| تضمین داوطلبی | زمان داوطلبی | تاریخ داوطلبی | اسم پروژه |
|---|---|---|---|
| ۱۵٪ قبل از شروع داوطلبی .نقدا اخذ میگردد | ۱۰:۰۰ قبل از ظهر | ۱٤۰۱/۱۲/۸ | لیلام و واگذار اجناس داغمه |

# (INVITATION FOR BIDS (IFB)
# ICB

| | |
|---|---|
| Procurement Entities | National Procurement Directorate (NPD) of General Directorate of Administrative Office on behalf of Ministry of Finance |
| Funded By | New Kabul Bank |
| Item Description | Core Banking Software and Database Upgrade, Migration and Implementation of New Kabul Bank |
| Ref. No | NPD/MOF/NKB/۱٤۰۱/ICB/NCS۰۳۰- |
| Website for downloading of bidding documents (SBD) | A complete set of Bidding Documents in English may be obtained by interested bidders free of cost by downloading from AOP website https://aop.gov.af/dr/access_to_information/administrative or dgMarket website https://www.dgmarket.com/. In case of any difficulty in downloading from website, interested bidders may contact at e-mail address: planningnpa@gmail.com copied to n.naiel.gdnp@gmail.com or<br>Phone number: ۷۰٤۵۰۹۹۵۷ (۰) ۹۳+<br>Note: The bidders who downloaded the bidding documents should send their companies information to the emails mentioned above to timely receive revised documents if needed. |
| Pre-bid Meeting | Pre-bid Meeting will be held on, ۲۷ February ۱۰:۰۰@ ۲۰۲۳ AM hrs Kabul time through google meet: https://meet.google.com/sra-vios-wdd?authuser=۱&hl=en |
| Bid Security | Bid shall include Bid Security as bank guarantee in the amount of ۲۰,۰۰۰ Twenty Thousand USD for the period of ۱۲۰+۲۸ days using the Form included in Section ۳ Bidding Forms. |
| Deadline for Bid Submission and Bid Opening | ۱۳ March ۱۰:۰۰ ,۲۰۲۳ (AM) hrs. (Local Kabul Time), Electronic bidding will not be permitted. Late bids will be rejected |
| Address for Bid Submission and Bid Opening | Attention: Procurement Plans Integration and Analysis Department of National Procurement Directorate<br>Address: Room No ۲ ,۲۰٦nd Floor of National Procurement Directorate of General Directorate of Administrative Office, Next to Marble Palace of AOP, Pashtunistan Watt, Kabul – Afghanistan |

## د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ ښوونیز مرکز ...

او لسګونو زده کوونکو ګډون کړی وو. په دغه مراسمو کې د یاد ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي نور احمد سعید د یاد ښوونیز مرکز په پیلېدو خوښي وښوده او ویې ویل، چې په یاد مرکز کې به په ورځني ډول ۳۳۰ زده کوونکو ته په انګلیسي، کمپیوټر او سواد زده کړې برخه کې په وړیا ډول زده کړې ورکول کېږي. ورته مهال استاد حیات الله رفیقي بیا د اطلاعاتو او کلتور ریاست وروستۍ لاسته راوړنې او فعالیتونه وستایل او له ځوانانو یې وغوښتل، چې تعلیم وکړي او د خپلو پخوانیو دیني عالمانو او علمي شخصیتونو لاره تعقیب کړي.

## یو شمیر ولایتونو کې له نږدې ۱۴ زره اړمنو کورنیو...

سرې میاشتې له لوري پر ۴۵۰ کورنیو د مرستو کڅوړې ووېشل شول. ورته مهال د نورستان په دواب ولسوالۍ کې د خوړو نړیوال پروګرام له لوري پر ۲ زره ۱۶۴ اړمنو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وشوه، چې په کې هرې کورنۍ ته ۷۵ کیلو ګرامه اوړه ۹.۳۸ کیلو دال ۶.۸۴ کیلو غوړي، ۴.۵ کیلو وریجې، ۱.۵ کیلو ګرامه د ماشومانو د خوارځواکۍ ځانګړي مواد او یو پاکټ مالګه ورکړل شوه.
په همدې حال کې په سمنګانو کې هم له ۶۰۰ بې وزله کورنیو سره مرسته وشوه. او دغه راز په هرات کې پر ۹۹۹ اړمنو کورنیو نغدي مرسته ووېشل شوه، چې په کې هرې کورنۍ ته ۴۷ زره ۷۰۰ افغانۍ ورکړل شوې.

## په کندز کې د څه باندې ۷۳ زره ډالرو په ...

د ۷۳ زره ۵۳۰ ډالرو په لګښت د ۵۹۹ مترو په اوږدوالي او ۴ مترو په سور جوړېږي. نوموړي زیاته کړه، چې په دغه پروژه کې به سلګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي. د یادونې وړ ده، چې دا ډول پروژې د دغه ښار په اتو سیمو کې د ښاریانو د چاپېریالي ستونزو د هوارې په موخه پلې کېږي.

## د اروپايي ټولنې غړي هېوادونه افغانستان کې د ناچاوده توکو ...

چې د ۲۰۲۲م کال له جنورۍ میاشتې تر اګست پورې په افغانستان کې د ناچاوده مهماتو د چاودنو ۴۳۵ پېښې ثبت شوي، چې له کبله یې څه باندې ۱۵۰۰ کسانو ته مرګژوبله اوښتې ده.

## سهولت‌های بیشتری در صدور ویزای ایران ...

در هرات، از آغاز مجدد پروسه‌ی صدور ویزای ایران، ابراز خوشحالی کرد و بیان داشت که باید بیشترین سهولت در خدمات صدور ویزا برای مردم در نظر گفته شود.
مولوی مهاجر به منظور جلوگیری از ازدحام بیش از حد برای ثبت نام' پیشنهاد کرد که این روند از سوی شرکت‌های خدمات سیاحتی نیز انجام شود. از سویی هم جنرال قنسل جمهوری اسلامی ایران و نمایندگان شرکت‌های مسافرتی و سیاحتی تعهد دادند که با ایجاد راهکار جدید' ثبت نام ویزای ایران، از سوی شرکت‌ها صورت گیرد.

## د کنګل شویو شتمنیو په اړه دې امریکا سره ...

شتمنۍ ازادې نه کړي، له قانوني لارو به یې د ازادولو لپاره ګام پورته کړي. تر دې وړاندې د امریکا ولسمشر جوبایډن د امریکا د استازو جرګې او مشرانو جرګې، مشرانو ته په یوه لیک کې د افغانستان د ارزي شتمنیو په تړاو د خپل فرمان د تمدید خبر ورکړی دی، چې پر بنسټ به یې ۳،۵ مېلیارد ډالره د سپتمبر د یوولسمې د پېښې قربانیانو ته ځانګړي شي.

## ځوانان باید د خپل اسلامي نظام ...

مسوولیت لري، څو ځوانانو ته د دیني او عصري زده کړو زمینه برابره کړي، خو په بدل کې یې د ځوانانو څخه غوښتل کېږي، چې ټولنې ته د کار کولو ترڅنګ د خپل اسلامي نظام ملاتړ وکړي.
وروسته د ځوانانو او د ځوانانو چارو د معین قاري محمد یونس راشد تر منځ آزاد بحث او مناظره پیل شوه، چې په ترڅ کې یې ځوانانو خپل سوالونه، غوښتنې نظریات شریک کړل او د ځوانان چارو معین یې د حل ژمنه وکړه.

## ګمرکونو کې بهرنیو انجیوګانو ته ګمرکي ...

ګمرکونو له لارې هغو بشري مرستو ته چې معافیت ورکول شوی شمېر یې ۱۴ زره او ۳۰۶ محمولو ته رسېږي چې ټولیز وزن یې یو میلیون ۶۱ زره او ۵۶۰ ټنه او ګمرکي ارزښت یې ۱۶۴ میلیارد افغانۍ کیږي. د سرچینې په وینا په افغانستان کې مېشتو بهرنیو بنسټونو او انجیوګانو ته د ماليې وزارت له لوري ورکړل شوي ګمرکي معافیت ته په کتو د سیګار وروستی راپور یو ځل بیا ناسم ثابتېږي چې د امریکا کانګرس ته یې په افغانستان کې له بهرنیو بنسټونو او انجیوګانو څخه د مالیاتو اخیستو په تړاو ناسم معلومات وړاندې کړي وو. د سرچینې په حواله مالیې وزارت په افغانستان کې بهرنیو بنسټونو ته د دوی د بشري فعالیتونو ترسره کولو په برخو کې د پام وړ مالیاتي اسانتیاوې رامنځته کړې او د بشري مرستو د لېږد او عادلانه وېش په برخو کې له یادو بنسټونو سره پر ترسره کړو ژمنو ولاړ دی.

## به مشکلات باشندگان ولایت کندز رسیدگی ...

نظام اسلامی خواهند بود. وی هم‌چنان، به مشکلات مردم در زمینه‌های تعلیم و تربیه، کمبود مدارس دینی، کمبود خدمات صحی و نبود راه‌های مواصلاتی اشاره کرد و از مسؤولان امارت اسلامی تقاضا نمود، تا برای رفع مشکلات مردم کندز، پروژه‌های عمرانی را، راه اندازی کنند. مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا رشادت‌های مردم و مجاهدین این ولایت، در دورۀ جهاد جهت ختم اشغال و برقراری دوبارۀ نظام اسلامی در کشور تحسین نموده، گفت که ملت و مجاهدین افغانستان خصوصاً کندز، صحنۀ کم نظیری از تاریخ را در بیست سال اخیر، رقم زدند.
معاون اداری ریاست الوزرا، تطبیق پروژه‌های انکشافی را جهت توسعه و آبادانی کشور، مهم عنوان کرد و افزود که امارت اسلامی در حد توان این پروژه‌ها را در تمام ولایات کشور تطبیق خواهد کرد.

## د هېواد په کچه ۷۵ زره معتادین د درملنې په موخه ...

سره د مبارزې معین عبدالحق آخنده زاده وویل، چې د امیرالمومنین حفظه الله د فرمان په اساس په ټول هېواد کې د نشه یي توکو کښت، قاچاق، پلور او ګټه ترې اخیستل منع دي.
آخندزاده زیاته کړه، چې اسلامي امارت له نشه یي توکو سره په مبارزې کې ټینګ هوډ لري او تر اوسه یې د هېواد په کچه ۷۵ زره په مخدره توکو روږدي کسان د درملنې په موخه راټول کړي، چې له ډلې یې تر اوسه د ۵ زرو کسانو درملنه شوې ده.
د نوموړي په خبره، د هېواد په کچه له نشه یي توکو سره د مبارزې پر وړاندې ۳ زره ۷۰۰ ضد عملیات ترسره کړي، چې په کې ۱۴۷ د نشه یي توکو د تولید کارخونې او ۴۰۴ ټنه نشه یي توکي کشف او له منځه وړل شوي دي.

## فراه کې د څاري په نوم سلګونه روزل شوي ...

سرپرست عمومي رئیس حافظ عزیز الرحمن، د قطر هېواد د الغرافه مؤسسې مشر شیخ علي بن عبدالله الثاني، د طبیعي میراثونو د ساتنې رئیس حامد صافي، سیمه ییزو مسوولینو او خبریالانو ګډون کړی وو.
د یادو الوتونکو د پرېښودلو پر مهال د قطر هېواد د الغرافه مؤسسې مشر شیخ علي بن عبدالله الثاني د څارې (هبارې) مرغانو په اړه وویل: ((دا داسې یو مرغه دی، چې شمېر یې په افغانستان او ځینو نورو سیمو کې د پام وړ کم شوی، موږ د دوی د نسل د ډېروالي په پار یو فارم جوړ کړی او غواړو، چې بېرته یې په ټول افغانستان کې نسل زیات او دا تشه ډکه کړو.)) په ورته وخت کې د چاپېریال ساتنې ملي ادارې سرپرست عمومي رئیس حافظ عزیز الرحمن د قطر هېواد د الغرافه مؤسسې د فارم جوړېدل وستایل او دا یې د الوتونکو د نسل دودې او تکثیر په زیاتوالي کې اغیزمن ګام وباله. نوموړي وویل، چې چاپېریال ساتنې د ملي ادارې دا دنده، څو چاپېریال خوندي وساتي او هغه ژوي او الوتونکي، چې له کمښت سره مخ دي د هغو ساتنه وکړي. هغه زیاته کړه، چې د اسلامي امارت له لوري په هېواد کې د هر ډول ژوو او نادره مرغانو ښکار بند کړی دی، خو د بهرنیو هېوادونو په ځانګړې توګه د عربي هېوادونو ځینو وګړو ته یې د جواز او هوکړې له مخې د ښکار اجازه ورکړل شوې ده. باید وویل شي، چې په فراه کې د څارې (هبارې) مرغانو تکثیر د الغرافه موسسې له کړنو څخه دي، چې هر کال د دغه ولایت د چارواکو په ګډون د یادو مرغانو له ډلې څخه تر ۲۰۰ زیات مرغان په ازاده هواکې خوشې کېږي.

## یو شمېر لوړ پوړو چارواکو د غزني له تاریخي ...

له یو شمېر تاریخي آبدو څخه لیدنه وکړه.
یاد پلاوي په غزني کې د بهلول دانا، حضرت حکیم سنائي، سلطان محمود غزنوي آبدو او شمس العارفین له مزار څخه لیدنه وکړه او د دغو تاریخي آبدو په ښې ساتنې یې ټینګار وکړ. په دغه کتنه کې د دغه ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس ملا حمیدالله نثار وویل، چې د روان کال په اوږدو کې د دغه ولایت یو شمېر تاریخي آبدې چې د نړېدو له ګواښ سره مخ دي او یا تر اوسه په اساسي توګه ندي رغول شوي، ستونزې یې له اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سره شریکې کړې او تمه ده، چې راتلونکي مالي کال کې ورغول شي.
نثار یاد پلاوي ته د غزني د تاریخي آبدو د مختصر معلوماتو تر څنګه په ډاګه کړه، چې غزني د هېواد په کچه یو له زیات شمېرو تاریخي آبدو او لرغونو سیمو درلودونکو ولایاتو څخه شمېرل کېږي خو د پالنې په موخه یې د مرکزي حکومت توجه هم اړینه ده.

## د کندهار له حکیمیه مدرسې څخه ۳۵۰ تنه ...

افغانان په خپلو منځو کې سره بې‌اتفاقه کړي او له نظام څخه یې لرې وساتي. هغه وویل، چې دا د ټولو علماوو مسوولیت دی، ترڅو د هېوادوالو د فکر سمون په برخه کې شپه او ورځ کار وکړي. د یادونې وړ ده، چې په فارغو شویو کسانو کې ۱۲۷ مولویان، ۱۸۰ قاریان او ۴۳ حافظان شامل دي.

## ننګرهار کې سلګونه روږدي کسان د درملنې ...

د ټولنیزو کارکوونکو له لوري تعقیبیږي، تر څو بیا په نشو روږدي نه شي.
د مسوولینو په وینا، په دغه موده کې به روږدو کسانو ته درمل، خوراکي توکي او نور اړین مواد وړیا ورکول کېږي او په معیاري بستر خونو کې به یې درملنه کېږي.

## د زابل مستوفیت ۶۱ میلیونه افغانۍ ...

د پیل څخه تر دې مهاله پورې یې د ټولو ملکي او نظامي ادارو د پرسونل د معاشاتو او مصرف په برخه کې شاوخوا ۳۰۰ میلیونه افغانیو حوالې اجراء کړې دي.
د یو بل خبر له مخې؛ د پکتیا ترافیکو مدیر مولوي محمد منصور باختر آژانس ته وویل، چې د اسلامي امارت له راتګ څخه وروسته تر دې مهاله ۲۵۳۲ جلده لایسنسونه په ملکي او نظامي برخو کې موټر چلوونکو ته وېشلي، چې له درکه یې ۱۴۰۰ زره افغاني عواید راټول شوي دي.

## ۱۲ ټانکره بې کیفیته تېل بېرته ایران ...

مسترد شول. په هرات ولایت کې د سټنډرډ ملي اداري د کیفیت د لابراتواري ټیسټ وروسته (۱۲) ټانکره تیل چې د دې ادارې د سټنډرډونو خلاف وو او پایله یې منفي وه، له مستردۍ وروسته ایران هېواد ته وګرځول شول.
په دې وروستیو کې سټنډرډ ملي اداري په خورا جدیت د بې کیفیته تیلو د واردولو د مخنیوي لپاره عملي ګامونه پورته کړي. او له ټولو سوداګرو غواړي تر څو هېواد ته با کیفیته توکي وارد کړي، کنه ورته قانوني عمل سره به مخ شي.
دا په داسې حال کې ده چې له دې څخه مخکې سټنډرډ ملي اداري په کراتو بې کیفیته تیل د هېواد په بنادرو کې مسترد کړي دي

## طرح تأمین آب آشامیدنی شهر کابل در جلسه‌یی ...

و آب، با حضور ملا محمد یونس آخندزاده سرپرست وزارت احیا و انکشاف دهات و نمایندگان شماری از ادارات برگزار گردید.
در این جلسه در مورد نهایی سازی طرح تامین آب آشامیدنی شهر کابل و لایحه اجوره منابع آب بحث و تبادل نظر صورت گرفت.
در ادامه جلسه به یک کمیتۀ تخنیکی وظیفه سپرده شد، تا ملاحظات وزارت احیا و انکشاف دهات و شرکت آب رسانی و فاضلاب شهری را دو باره مورد بررسی و مطالعه قرار دهند.
قابل ذکر است که طرح‌های متذکره براساس هدایت معاونیت اداری ریاست الوزرا به منظور تامین آب آشامیدنی شهر کابل و حل مشکلات آن تهیه شده و پس از نهایی سازی به معاونیت اداری ریاست الوزرا امارت اسلامی، ارائه خواهد شد.

## علاقمندی ترکمنستان برای خریداری بیشتر سنگ مرمر ...

و یاد آور شد که تجار هرات، خواهان گسترش روابط اقتصادی با ترکمنستان اند.
در عین حال رئیس و اعضای اتحادیه صنعت کاران هرات از کیفیت بالای سنگ مرمر ولسوالی چشت شریف و علاقه‌مندی کشورهای منطقه و جهان به استفاده از این سنگ' اظهار امیدواری کرد که ترکمنستان بخشی از نیازمندی خود به سنگ مرمر را از هرات، تأمین کند.
قنسل ترکمنستان در هرات، در این دیدار، از علاقه‌مندی نهادهای تجاری آن کشور به خاطر افزایش همکاری‌های اقتصادی با هرات، اطمینان داد.

## افغان ولس له خپلو ترکي او شامي ورونو سره ژوره غمرازي ...

او خپله یې خپل ځانونه د هغوی د رحم و شفقت په لمن کې غورځولي دي. خو د دې پر خلاف که چېرې مسلمانانو ته یاده بدبختي ورپېښه نه وی نو څښتن تعالی خو اسلامی نړۍ له مادي شتمنیو داسې مالامال پیدا کړې چې باید په هیڅ صورت دلته د بې وزلۍ نوم او نښان هم نه وی. دغه راز د زلزلو، سېلابونو یا نورو اسماني افاتو پر وخت خو باید چې په یوه ساعت کې مصیبت ځپلو ته هر ډول مرستې رسېدلې وی. خو بیا هم ډېر د افسوس ځای دی چې بیا به هم اغیارو ته ناري او هماغه دښمنان به د مرستو سرلاري وي، په داسې حال کې چې ترڅنګ یې انتهایي ډېر زیات بډای مسلمان هېوادونه ګاونډیان هم دي. په هر صورت متعال خدای جل جلاله دې ټولو مسلمانانو کې د اخوت احساس راژوندی او خپلو مسلمانانو مصیبت ځپلو ورونو سره د مرستو توفیق ور په برخه کړي.

## لغمان: نږدې ۶۰ جریبه دولتي ځمکه له غصب څخه ...

خبریال ته وویل، چې د الینګار ولسوالۍ اړوند د اوي ناو په سیمه کې یې ۵۷.۴ جریبه دولتي ځمکه د غاصبینو له منګولو څخه خلاصه کړه او یاده سیمه کې یې ۱۲۰۰ جریبه نوره دولتي ځمکه تثبیت کړې ده.
د یادونې وړ ده، چې د غصب شویو ځمکو د بېرته راګرځولو تخنیکي پلاوي فعالیتونه لغمان کې په چټکۍ سره روان دي، چې تر دې وړاندې یې هم د زرګونه جریبه دولتي ځمکو تثبیت او سلګونه جریبه نوره له غصب څخه خلاصه کړې ده.

## سفر هیئت بلندرتبۀ ادارۀ خط آهن به ...

مسوولان این اداره، امیدوار اند که پس از امضای قرارداد بین دو کشور، روند انتقال کالاهای تجاری از خط آهن حیرتان – مزار شریف، دوباره آغاز شود.

## اشتراک سفیر افغانستان در کنفرانس بین‌المللی ...

با نظارت شیخ خالد بن عبدالعزیز آل ثانی نخست وزیر و وزیر داخله کشور قطر، برگزار گردیده بود که در آن شرکت کنندگان دیدگاه و راهکار کشورهای شان را پیرامون مسلکی سازی ادارات بیان داشتند.

## د بلخ په شورتیپې ولسوالۍ کې د آمو سیند ...

او جوړولو چارې پیلېږي، چې لومړۍ نقطه یې د بلخ ولایت د شورتېپې ولسوالۍ څخه پیل شوه.
په همدې حال کې د بلخ ولایت مرستیال مولوي نورالهدی ابو ادریس وویل، چې نن د ډېرې خوښۍ ځای دی، چې د اسلامي امارت د بلخ ولایت د شورتېپې ولسوالۍ د مظلومو خلکو غږ اوري او د هغوی د مالونو د ساتنې لپاره لویې پروژې پلې کوي.
ابو ادریس زیاته کړه، چې اسلامي امارت د خلکو په خدمت کې دی او د افغانستان د خلکو د هوساینې لپاره یې هر څومره چې کولای شي کار کوي.
نوموړي د یادې ولسوالۍ له خلکو او اوسېدونکو وغوښتل، چې د یادې پروژې له کارکوونکو سره د یادې مهمې او اړینې پروژې د پلي کېدو په برخه کې همکاري وکړي.
د یادونې وړ ده، چې یوه میاشت وړاندې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت سرپرست مولوي عطاء الله عمري د کابینې د پرېکړې له مخې؛ د یوه لوړ پوړي پلاوي په مشرۍ بلخ ته سفر کړی و، چې د دغه ولایت د کلدارې او شورتېپې ولسوالیو کې یې د آمو سیند له امله د تخریب شویو سیمو څخه لیدنه کړې وه.

## با عملی شدن طرح جدید شفاخانه ها بهبود خواهند ...

مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا در بارۀ طرح یاد شده گفت: طرح ریفورم شفاخانۀ جمهوریت اولین مرحله از طرح وزارت صحت عامه در زمینۀ انجام اصلاحات در شفاخانه‌های رسمی است و در صورت مثمر بودن به صورت تدریجی در تمام شفاخانه‌های داخل کشور اجرا می‌گردد.
معاون اداری ریاست الوزرا موارد یاد شده در طرح را مفید خواند و گفت: این طرح با مقامات ذیصلاح امارت اسلامی افغانستان شریک و بعد از تایید عملی خواهد شد.

# Shariat
Twice printed in week

**Shariat**
**Published by**
**Islamic Emirate of Afghanistan**
**M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies**
0782080666
**Chief Editor : Farooq Ghaljai**/ 0778635852
**Email: info@shariatdaily.com**
**WWW.shariatdaily.com** ويب سايت:

**شريعت**
د ليكوال هيئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رييس:
م محمد ابراهيم نبيل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤول مدير: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شريعت برېښنا ليک: **Shariatdaily@gmail.com**
پته: د بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت نوې ودانۍ
شماره توزيع و شکايات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Thurseday 9 February 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 126


**د کورنيو چارو وزارت معين**

## د هېواد په کچه ۷۵ زره معتادين د درملنې په موخه راټول شوي



د کورنيو چارو وزارت د نشــه يي توکو پروړانــدې د مبارزې معين عبدالحق آخندزاده له مل پلاوي سره د اميرالمومنيــن حفظه الله د فرمان د پلي کولو په موخه غزني ته د سفر په ترڅ کې يوې غونډې ته په وينا کې وويل، چې د هېواد په کچه له مخدره توکو سره د مبارزې پر وړانــدې ۳ زره ۷۰۰ عمليات ترسه کړي دي.
په يــاده غونډه کې د کورنيو چارو وزارت له مخدره توکو... ۷مخ

**معاون اداری رياست الوزرا**

## به مشکلات باشندگان ولايت کندز رسيدگی می‌شود

شريعت: معاون اداری رياست الوزرا در ديدار، با جمعی از علماء، مسوولان و مجاهدين ولايت کندز، وعده سپرد که به مشکلات باشندگان اين ولايت رسيدگی صورت می گيرد.
دفتر مطبوعاتی رياســت الــوزرا روز گذشته با نشر اين خبر گفت: که مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری رياست الــوزرا، با ملا رحمت الله محمد اکا قوماندان قول اردوی ۲۰۳ منصوری، مولوی حبيب الرحمن صهيب معاون والی کندز و جمعی از مســوولان و مجاهدين آن ولايت، ديدار نمود.
در ايــن ديــدار، ملا رحمــت الله محمــد اکا به نمايندگــی از ديگران صحبــت نمود و در مــورد وضعيت اجتماعــی، امنيتــی، اقتصــادی و مشــکلات مــردم آن ولايــت معلومات داد. قومانــدان قول اردوی ۲۰۳ منصــوری، از مجاهــدت و فداکاری‌هــای مــردم و مجاهديــن کنــدز، در زمان جهاد عليه اشــغال گران خارجی و اســتقرار دوبارۀ نظام اسلامی يادآوری نموده گفت: مردم و مجاهدين اين ولايت مانند، هميشه حامی و پشتيبان... ص۷

**د ځوانانو چارو معين**

## ځوانان بايد د خپل اسلامي نظام ملاتړ وکړي

زابــل ته د ځوانانو چــارو معين قاري محمد يونس راشــد د رســمي سفر په تــرڅ کې د دغه ولايــت د ځوانانو ستونزې او غوښتنې واورېدې.
په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې د زابل مرستيال والي سليمان آغا بهير د ښه راغلاست ترڅنګ وويل، چې که ځوانان د ټولنې لپــاره کار وکړي ټولنه او نظــام به پيــاوړی وي. ورته مهال د ځوانانو چارو معين قاري محمد يونس راشد وويل، چې ځوانان زياته انرژي لري او بايد خپلو خلکو او ټولنې ته کار وکړي، ترڅو خــان او ټولنه د نورو له احتياج څخه خلاصه کړي.
نوموړي زياته کړه، چې ځوانان بايد د خپل شته اسلامي نظام ساتنه وکړي، ځکــه موجود نظــام د ولــس څخه جوړ دی او دغه نظــام به د ځوانانو په ملاتړ راپورته کېږي. هغه وويل، چې اسلامي امارت... ۷مخ

**محرابي**

## د کنګل شويو شتمنيو په اړه دې امريکا سره قانوني خبرې وشي




د افغانســتان بانک د تفتيش کمېټې ريــس وايي، چــې د افغانســتان د شــتمنيو د هغو ۳،۴ مېلياردو ډالرو د ساتنې لپاره چې د سپتمبر د يوولسمې د بريد د قربانيانو کورنيو ته ځانګړې شــوي دي، اړتيا ده چې د افغانستان بانک د امريکا له قانوني شــورا ســره خبرې وکړي. محرابي وايي چې دغه خبرې به د امريــکا په قضايي بهير د افغانستان د شتمنيو په ساتنه کې مرسته وکړي. نوموړی وايي، مهمه ده، چې د افغانســتان بانک د امريکا له يوې قانوني شــورا ســره خبرې وکړي څو خپلې ارزي زېرمې د امريکا له قضايي بهيره وساتي. بل خوا د ا.ا وياند وايي که چېرې امريکا د افغانستان... ۷مخ

**نمايندۀ وزارت خارجه در هرات**

## سهولت‌های بيشتری در صدور ويزای ايران ايجاد گردد



شريعت: نشستی به منظور تسهيل و تسريع روند دريافت ويزای ايران برای شهروان افغان در هرات برگزار گرديد.
اين نشستی با حضور مولوی شيراحمد عمار مهاجر رييس نمايندگی وزارت خارجه در هرات، صديقی فر جنرال قنســل جمهوری اســلامی ايران در هرات، وحيدالله سلطانی آمرتوريزم رياســت اطلاعــات و فرهنــگ و نمايندگان شــرکت‌های مسافرتی و سياحتی برگزار گرديد.
مولوی شيراحمد عمار مهاجر رييس نمايندگی وزارت خارجه ... ص۷

**د اروپايي ټولنې ځانګړې استازولي**

## د اروپايي ټولنې غړي هېوادونه افغانستان کې د ناچاوده توکو پاکولو ته ژمن دي

د افغانســتان لپاره د اروپايي ټولنې د ځانګړې اســتازولۍ مرستيالې پرون د هيلو ترســت ماين پاکۍ موسسې له مشــرتابه ســره په افغانستان کې د ناچــاوده مهماتو پــر موضوع خبرې وکړې. رافايله لوديچي پر خپله ټويټر پاڼه ليکلي، د افغانستان په هر ولايت کــې د جګړې د ميراث په توګه لا هم ناچاوده مهمات پيدا کېږي. د هغې په وينا، د اروپايي ټولنې غړي هېوادونه په افغانستان کې د ناچاوده توکو پاکولو او د افغانانو له خونديتوب سره مرستې ته ژمن دي. د سره صليب نړيوالې کمېټې تېر کال ويلي وو... ۷مخ

## په کندز کې د څه باندې ۷۳ زره ډالرو په لګښت د يوې پروژې چارې پيل شوې



د کندز ښار په لومړۍ ناحيه کې د نقي سيند د کوڅې پر سر د دوه طرفه کوڅو د جوړولــو پروژې چــارې د ۷۳ زره ۵۳۰ ډالرو په لګښت پيل شوې.
د دغــه پروژې د پيل مراســمو کې د کندز ښاروال مولوي کل محمد الياس وويل، چې دغه پــروژه د UNEPS موسسې په مالي ملاتړ... ۷مخ

## يو شمير ولايتونو کې له نږدې ۱۴ زره اړمنو کورنيو سره مرسته وشوه

په ننګرهار، ميدان وردګو، نورستان، ســمنګانو او هــرات ولايتونو کې د بېلابېلو مرســتندويه بنسټونو په مالي ملاتړ له ۱۳ زره ۹۳٦ اړمنو کورنيو سره مرسته وشوه.
د ننګرهار په بټي کوټ، حصارک، او شينوارو ولســواليو کې په ۹ زره ۷۲۳ اړمنو کورنيو خوراکي توکي ووېشــل شــول، چې په کې به د شپږو مياشتو لپاره هره مياشت کې ۵۰ کيلو اوړه، ۵ لېتره غوړي، ۶.۲۵ کيلو دال، نيمه کيلو مالګه، ۳۳ پاکټه د ماشونو خوارځواکي ضد مــواد او د مېرمنو لپــاره ۴ پاکټه تقويتي مواد شامل دي.
همدارنګه د ميدان وردګو په دايميرداد ولسوالۍ کې د افغاني... ۷مخ



## د کندهار له حکيميه مدرسې ۳۵۰ تنه فارغ شول

د کندهار د حکيميه مدرســې له بېلابېلو څانګو څخــه ۳۵۰ تنه فارغ او د فضيلت پګړۍ ور په سر شوې.
د باختر آژانــس د خبر له مخې؛ په همدې مناسبت د دغه ولايت په مرکزي عيــدګاه جومات کې د دســتاربندۍ ځانګړې مراسم نيول شــوي وو، چې پــه کې د پوهنې وزارت سرپرست مولوي حبيب‌اللــه آغا، د لــوړو زده کړو وزارت سرپرســت مولــوي ندا محمــد نديــم، د کندهــار والي حاجي محمــد يوســف وفا او زرګونو هېوادوالو ګډون کړی وو.
د پوهنې وزارت سرپرست مولوي حبيب‌الله آغــا وو يل: لکه څنګه چې د دې اسلامي او شرعي نظام راوستل پر ټولو فرض عين و، اوس همداسې د دې نظام دوام، ساتل او ټينګښت پر ټولو فرض عين دی.
ورته مهال د کندهار والي حاجي محمد يوســف وفــا وويل، چې شل کاله د کفارو پر وړاندې کلکه مبارزه وشوه، چې اشغال ختم او قربانيو پايله ورکړه.
نومــوړي زياته کــړه، چې کفري نړۍ لا هم په افغانستان کې خپلې فکري او تبليغاتي جګړې ته دوام ورکړی او هڅه کوي... ۷مخ

## ۱۲ ټانکره بې کيفيته تېل بېرته ايران ته مسترد شول

شريعت: د ستنډرډ ملي اداري په اسلام قلعه بندر کې (۱۲) ټانکره بې کيفيته تېل (ډيزل او پطـرول) ايران هېواد ته بېرته مسترد کړل.
د ستنډرډ ملي اداري له لوري په هرات ولايت اســلام قلعه بنــدر کې (۱۲) ټانکره بې کيفيته تيل (ډيزل او پطرول) چې د دې اداري له ســتنډرډونو سره يې مطابقت نــه درلود، بېرتــه ايران هېواد ته ... ۷مخ



## ګمرکونو کې بهرنيو موسسوته ګمرکي معافيت ورکړل شوی




ماليــې وزارت د هېواد پــه ګمرکونو کې ټولو بهرنيو بنســټونو او انجيوګانو ته چې د بشــري مرستو په برخه کې فعاليت کوي د ګمرکي معافيت خبر ورکړ. ماليې وزارت تيره ورځ په خپله ټويټرپاڼه د يــوې خبرپاڼې په خپرولو ســره ليکلي، چې په تېرو ۱۵ مياشتو کې د افغانستان د ټولو... ۷مخ

## د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ ښوونيز مرکز پرانيستل شو

د کندهــار د اطلاعاتــو او فرهنــګ رياست مســوولين وايي، چې د دغه رياست ښوونيز مرکز پرانيستل شو.
په همدې موخه جوړو شويو مراسمو کې د اطلاعاتو او کلتور رئيس مولوي نوراحمد سعيد، د يادرياست مرستيال ملا شمس الله صميم ، استاد حيات الله رفيقي، ځوانانو... ۷مخ

## کندهار کې يو بند جوړ شو


شــريعت: د کندهــار په ارغســتان ولسوالۍ کې د ۹۰ زره ډالرو په لګښت يو کوچنی بند جوړ او ګټې اخيستنې ته وســپارل شو. د دغه بند د پرانيستلو مراسمو کې د يادولايت د اقتصاد رئيس ملا عبدالسلام بريالي وويل، چې دغه بند د ارغستان ولسوالۍ په منګچر کلي کې د ډي.آر.ســي. موسسې په مالي ملاتړ د ۹۰ زره ډالرو په لګښت جوړ شوی، چې ۲۷٦ کورنۍ به يې له اوبو څخه ګټه واخلــي. د نوموړي په وينا، دغه بند ۱۱۰ مترو پــه اوږدوالي او ۱۲ مترو په لوړوالي جوړ شوی، چې ۴۰۰ زره متره مکعبه اوبه زېرمه کولای شي.

## د بلخ د پوليسو له روزنيز مرکز څخه لسګونه سرتېري فارغ شول

شــريعت: د بلخ د پوليسو له ښوونيز او روزنيز مرکز څخــه ۷۲ پوليس له يوې مياشتې زده کړو وروسته فارغ شول.
په همدې موخه جوړو شــويو مراسمو کــې د بلــخ د ښــوونيز او روزنيز مرکز قومندان مولوي فضل الرحمن نصرت فارغو شويو کسانو ته د مبارکۍ ترڅنګ وويل، چې د تعليمي مرکزونو تعليمات د بېلابېلو منظور شويو ښوونيزو پلانونو له مخې دوام لري، چې په تېر يوه کال کې په زرګونه ساتونکي له لنډمهاله کورسونو څخه فارغ او په امنيتي څانګو کې په دندو ګومارل شوي دي.

## کابل ښار کې يوه ټوټه ځمکه له غصب څخه خلاصه شوه

شــريعت: د کابل په لســمه ناحيه کې لســګونه متره ځمکه له غصب څخه خلاصه شــوه. د کابل ښــار د لسمې ناحيې مرستيال قاري عبدالحی شهيدزي رســنيو ته ويلي، چې د لسمې ناحيې اړوند د تايمني سابقه څلور لارې سيمه کې، غصب شوې شنه سيمه تر پېژندلو وروسته بېرته راوګرځول شوه. د سرچينې د مالوماتو له مخې دغه ۱۵۰ متره مربع ځمکه، چې د شنې سيمې لپاره ځانګړې شوې وه، اوس له شخصي ګټې اخيستنې څخه ازاده شوې او په پام کې ده، چې په يوه معياري شنه سيمه به بدله شي.
نوموړي زياته کــړې، چې هېڅ څوک نشــي کولی له عامــه ملکيتونو څخه شخصي ګټه پورته کړي.



## ننګرهار کې ۵۰ سرتېري فارغ شول

د ننګرهار ســيمه ييز چارواکي وايي، چې د دغه ولايــت د ۲۰۱ خالد بن وليد قول اردو اړوند د ننګرهار درېيمې پلې لــوا له درېيم کنــډک څخه ۵۰ سرتېري له نظامي، مسلکي او فکري زده کړو وروسته فارغ شول.
په همدې موخه جوړو شويو مراسمو کې د يادې قول اردو مرستيال مولوي محمد نظامي فارغ شويو سرتېرو ته په وينا کې وويل: (تاسې د اسلامي نظام، مقدســې خاورې او ملت ساتونکي ياســت د ملت کړی باور وساتئ او د خپلو مشرانو اطاعت وکړئ).
د مراسمو په پای کې فارغو سرتېرو ته د مسوولينو له لوري تصديق پاڼې ورکړل شوې.


**توجه !**
**ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذاريد!**

**شريعت**
**شريعت جريده داسلامي مبارزې يو رسا غږ او رښتينې هينداره ده، نو له ټولو مخلصو او با احساسه دعوتګرانو او دردمنو ليکوالانو هيله من يو چې موږ سره خپلو قلمي همکاريو ته دوام ورکړي.**